د نیمو شپو چیغې

عبیدالله معک

PROPERTY OF
ACKU
2630

دنیمو شپو چیغی

څولندی کیسی

عبیدالله سحک

دکتاب نوم : دنیمو شپو چیغی

دلیکوال نوم : عبیدالله محك

خپروونکی : دافغانستان دلیکوالو انجمن

مهتمم : محمد عارف خزان

دچاپ کال : ۱۳٦۸ هـ ، ش، (جنوری ۱۹۹۰ع)

دتیراژ شمیر : ۲۰۰۰ ټوکه

دانجمن دشمیر نومره : ۱۸٦

دنشراتو نومره ۳۵۷

دچاپ ځای : دولتی مطبعه،کابل

۱۳٦۸ کال

دلوی‌خدای پەنامە

په‌دی کتاب کی دغه لاندی کیسی لولی :

۱ـ دنیمو شپو چیغی ،

۲ـ زموږ دچم گاونډ جلکی ،

۳ـ لیونتوب ،

٤ـ زموږ موسسه ،

٥ـ دخور کوژدن ،

٦ـ دصندلی پرستن ،

۷ـ مینه او مړینه ،

۸ـ کربنی ،

۹ـ لاسونـه ،

۱۰ـ زنځـیر ،

۱۱ـ داغونـه ،

نمجـ ـ

گران‌لوستونکی‌دی‌لاندی
غلطی سمی کړی

مخ	کرښه	ناسم	سم
عنوان	عنوان	شپی	شپو
لومړی	دریمه	پانه	پانه
لومړی	لسمه	دوو مره	دومره
لومړی	دولسمه	پرقهار	پرقهار
دویم	شپږمه		–
دویم	دیارلسمه		–
دریم	اوومه		–
څلورم	یوویشمته	سپن	سپن
عنوان	عنوان	زه ږ	زموږ
اتم	پنځه‌لسمه	کبدم	کیدم
نهم	لومړی	کبده	کیده
یوولسم	شپږمه	سغی	هغی
یوولسم	لسمه	رواغ	درواغ
یوولسم	یوولسمه	–	د

مخ	کربنبه	نا سم	سم
دولسم	ل سمه	ه	زه
دولسم	دولسمه	وتله	تله
دولسم	نولسمه	لوتی	کوتی
څوارلسم	دویمه	مرم	و مرم
اتلسم	دویمه	تیلی پاتی	تیلی پاتی
اتلسم	دولسمه	اشك، ویری او نوار دهغی څای وینو) دی وښکل شی	
شلم	اوومه	سته	شته
شلم	نهمه	بی	یی
یوویشتم	دویمه	(لز) دی وویشتل شی	
یوویشتم	یوولسمه	زیږ	زیږ
یوویشتم	دولسمه	نوری	توری
یوویشتم	دیارلسمه	کین	کین
یوویشتم	څوارلسمه	کین	کین
یوویشتم	دوه ویشتمه	بی	یی
یوویشتم	اته‌ویشتمه	(ام) دی و بنکل شی	
دوه ویشتم	نولسمه	شو	شوه
دوه ویشتم	اوه ویشتمه	مه کړی	می‌نه کړی
دوه ویشتم	پنځه ویشتمه	تیاره و	تیاره وه
درویشتم	اشپاړ لسمه	خولی	خوړلی
پنځه ویشتم	یوولسمه	څیر	څیر
شپږویشتم	اتمه	وروستی (د) دی ووستل شی	
نهه ویشتم	درویشتمه	نیا	دنیا
نهه ویشتم	څلوروویشتمه	وه	وو

مخ	گربند	ناسم	سم
نهه ویشتم	شپږویشتمه	او راته	او داسې راته
دیرشم	دیارلسمه	کوتې	دکوتې
دیر شم	ا تلسمه	نوم دیر	نوم و دیر
دری دیر شم	دوه ویشتمه	(یوشو) دی وویستل شی	
څلور دیر شم	شلمه	بی	بی
څلور دیرشم	یو ویشتمه	بی	بی
پنځه دیرشم	اتمه	نوت	نوټ
پنځه دیر شم	څلور ویشتمه	را یادیدی	را یادی کړی
شپږ دیر شم	دیار لسمه	غوږونه	غوږوته
نهمه دیر شم	یوولسمه	لسمی	لسمی
نهه دیر شم	شپږویشته	منښو	منسو
څلویښتم	نهمه	بر	بد
یو څلو ینښتم	لسمه	نه	ته
دوه څلویښتم	دویمه	لو یظم	لویږم
څلور څلویښتم	اتمه	نه ته	نه،ته
پنځه څلو ینښتم	ادیارلسمه	شو	شو ه
اته پنځوسم	پنځمه	کون	کوڼ
اته پنځوسم	شپږمه	کون	کوڼ
پنځه شپیتم	اوومه	سپن	سپڼ
دری او یایم	اشپارلسمه	بن	بڼ
څلور اویایم	دویمه	زمو:	زمونږ
پنځه اویایم	درویشمه	ته به په	ته په
شپږ اویایم	نو لسمه	څه ښه	څه‌ښه
یواتیا یم	لسمه	وی	وه
دری اتیایم	درویشتمه		ـ

مخ	گربند	ناسم	سم
اوه اتیا یم	دوه وشتمه	شوو	شو
اته اتیایم	درویشتمه	یوه	یو
څلورنویم	اتمه	غر هارونه	غرها روته
یوسلو یو	شپږمه	نور رنګ	تور رنګ
یو سلو یو	اتمه	رون	رون

همدا راز په انشا کی یی، تکـی‌کامی او څه داسی نوری غلطی هـم شته .چی‌گران لوستونکی به‌یی‌په‌لوستلو کی له نظره نه غور ځوی.

د نیمو شپې چیغې

۷ر۷ر ۱۳٦٦

ما دسهار په او وبجو څپل لاسی‌بکس چی له ډیرو پخوانو زړو او شلیدلو خو مهمو پانو څخه ډکوله‌ځانه سره‌واخیست اودښوونځی‌په‌لور وخو ځیلیم. په بکس کی می‌څه نورشیان لکه دنتایجو پانه اودوی‌دتوتی خلتی ځای شوی وی. له دی چی‌بیګامی خوب نه وکړی نو بکس‌ډیر درونده ښکاریده او وړلویی آزار راکاوه. خو چاره نه وه .

په لاره کی دزده کوونکو یوه لویه‌ډله را سره ملګری شوه. ځای،ځای به‌یو نیم نور هم را سره ګډیدل‌هرچا خپلی خبری کولی. زه‌دتولو په مخ کی روان وم. غلی اوبی خبرومخ ته تلم. غلی خوځکه وم چی نا ساز وم او تول ځان می‌خوبزیده‌دبیګا مانښکام پیښو زه په چرت‌کی ډوب کړی وم. کله کله خوبه یی‌دوومره په ځان کی وپیچلم چی دا را سره په خواکی روان زده‌کوونکی‌به می‌بیخی له‌یاده ووتل. دمرمیو پر قهار او دتو پونو ډژهارله یوی‌خوا او دراکټونو غږمبهاری به له‌بلی

خوا زما دذهن دنړی‌جگی تیتی پـــه‌لړزه راوستی. دماشومانو زګیروی او دخیرمه کلو دخلکو چیغو، ژړاووا‌و انګولا وو به په زړه یو نری شاک رنځ را خوړکی. او هغه دمرغی ادی‌او ترو منډو خو به ان همدا اوس هم زما سترګی او بلنی کړی. دهمدی‌خیالونو او چرتونو سره دلاری په نیمایی کی وم چی یوه زده کوونکی‌را څخه وپوښتل :

استاذه! بیګاه شپه خو په خیرتیره شوه ؟

مالا په لومړی پلا دا خبره واوریده‌خولکه ویده چی وم هیڅ خـــواب می‌ورنه‌کړ. هغه داسی وانګیر له‌چی‌ګنی ما پوښتنه وانه وریده نو بیا یی خپله پوښتنه وکړه. داځل می دننه‌په ځان کی ټکان وخوړ. پام می‌شو چی دزده کوونکو سره یم. او دامی‌هم لکه له خوبه چی راو ینبی شوی وم را په یاد شول چی همدا پوښتنه‌مخکی هـم وشوه. لږ ځیر شانته شوم او ځواب می ورکړ :

څه خیرو. تیره خو شوه مګر په‌داسی ډول چی ټول کلی یی او تـر کړ. هغه مرغی ادی‌خونو لیونی شوه‌بیګایی په خپـل سرمنډی وهلـــی څوک یی په خبرو نه‌پوهیدل چی څه‌وایی. کله‌ نښکته او کله پورته یـی منډی وهلی. فقط همدو مره پوهیدم‌چی دخپل یوازینی زوی نـومـیـــی اخیست تر سهاره یی دا نړدی‌کلی‌له خو به وایستل .

او بی له دی چی وپوهـیږم ددی‌خبرو دکولو سره یو ځای می‌لـــه سترګو څخه اوښکی تویی شوی. خوله دی چی یوګام له زده کوونکـــو څخه دمخه وم دچاپام نه شو. ما همله دی ویری چی څوک پوه نه شـــی ګوتی ورنه‌وړی. ټول ځیر شوی اوزما خبرو ته یی غوږونه تیز کړی‌وو.

په زده کوونکو کی یوتن داسی هم‌وچی پلاریی ذهنی خوا دډلی مشرو هلکانو زما دخبرو په پای کی‌هغه ته‌مخ واړاوه. غریب خولی وکړی هغه هم‌داسی خولی چی رنګ‌یی ورسره‌سور واوښت. لوډن پری ورک شو. نه‌پوهیده چی څه وکړی.

دی په خپله بنه هلك وسره له دی‌چی زلمی شوی واو کولای یی شول چی دپلار سره تللی وای خو ده داکارونه کړ. پلار به یی پیسی را لیږلی او ده به په هغو پیسودخپلی‌مور او ځان خرڅ پوره کاوه او ورسره به خواکی یی په لسم ټولگی‌کی‌لوست هم کاوه .اوس چی ټولو هلکانو هغه ته وکتل نو ده له پوځه‌ځنډه څخه وروسته ستو نی صاف کړ او ویی ویل :

دا څه معلومه ده چی چاوویشتی؟

دده ددی خبری سره په خو کسوکی وینه وچلیده او په نیمه خوله‌یی دا خبره په خپلو مینځوکی وکړه.خوځینو بیاپه‌برندو ستر گو ورته‌وکتل داسی چی تابه ویل‌اوس‌یی په‌کتو‌کتوکی وریتوی. زه له دی ویری‌چی دزده کوونکو په مینځ کی شخړه‌پیدانه‌شی لږ جدی‌شوم. هغه‌خپل‌عاطفی حالت نه چی‌په مخکنیو خبروکی‌راته‌پیدا شوی ووتم اوپه یودرانه‌غږ می‌وویل :

ـ هلکو دا ستاسو کارنه‌دی.تاسوخپل مکتب ته ځی .دا وخت ستاسو له‌پاره ددی خبرونه دی .

زما په خبرو هلکان غلی شول اوبیاموخپل تگ ته دوام ورکړ.چپتیا خپره شوه. دی چپتیا زه ورو:وروبیاخپلی دنیا ته بوتلم او هلته دتیر مابنام دمرمیو خطونه زما دذهن په‌هینداره کی ډیر روښانه بریښیدل. په همدی کی دمکتب دروازی تـــه‌رسیدلی و. دزده کوونکو څخه جلا شیوم او اداری ته لاړم. په اداری کی‌هم‌ټولو دتیر مابنام دجگړی خبری کولی. هرڅا دخپلو لیدنو له مخـی‌قصی کولی. خویوه هم هغه څه چی مالیدلی ووته ویل. ماته به‌دمرغـی‌ادی دنیمی شپی چیغو په ذهن کـی انگازی کولی او یودول دبی وسی‌اوښکی می‌له زړه څخه تحریکیدی. خو لمابنه خپلی اوښکی ټینگی کړی. څه‌شیبه می‌ټول خیالونـه له اختیاره ووتل او دمرغی ادی او دهغه دزوی‌نیك محمد دځو ځیرو کلونو ژوندیی

راپه یاد کړ. هغه اوه کاله دمـــخه‌ددولسم ټولګی څخه وتلی و.څوځلی نور خان دهغی خوا قوماندان ورپسی‌راغلی واو هر وار به‌یی له ده څخـه غوښتنه کوله چی ورسره لاړ شـــی‌خو ده مور یعنی مرغی ادی به تل قران کریم ورته مخی‌ته کیښود.هغه‌به‌له دی ویری چی څوك ونه وایـی نور خان قران کریم نه‌منی‌ـ ژربیرته‌له کلی ووت. له بله پلوه دده پـه خپلی ډلی کی هم ډیرو مرغی‌ادی‌ته‌په درنه ستر‌گه کتل او دادی په نامه به‌یی بلله. نوځکه نورخان به په نیك‌جان ډیر زورنه‌اچاوه. همدا رازمرغی ادی خپل ایك‌یوازینی زوی دعسکری‌څخه هم‌پټ ساته او په هر ډول‌حالا توکی یی هغه بچاوه .

خو تیر مانبنام... هو، تیر مانبنام‌بی‌له دی چی هغه له کوره خوځیدلی وی دمور په کورکی ناست دژوند دنیلی څخه وغورځید. په هم هغـــو ډزو کی یوه درنه او ویر وونکی‌گولی‌دکلاپه جنوبی بدن کی ولګـیده او د ستر‌گو په رپکی ترڅو هغه ځان‌گذا راوه دو چولی په برخی کی ټپی او په بدن سوری ،سوری شو.دځـــولندو شیبو په اوږدوالی کی چی‌مرغی ادی خپل زوی ته منډی او ورناری‌کړی نوره نوپه هغه کی ساه نـه‌وه مرغی ادی بی‌له دی‌چی گوتی وروړی‌او تره یوی خواته ودریده او په‌وازه خوله یی دزو ی دبدن څـخه دوینوددارو تماشا کوله. دی کی گونگـو سی شو. دنیك نوم واوریدل شو.چاویل مړدی. دځینو هم پام شو چـی مرغی ادی‌هکه،پکه ولاړه ده او هیڅ‌نه‌وایی. چاوخو څوله. یوی بنځـی په غاړه کی‌لاسونه ورواچول اوچیغی‌یی‌کړی. خوادی بی له‌دی چی یـــو سپین له خولی و با سی هسی‌ولاړه‌وه ان یوی بنځی خو یوه گلکه‌څپیړه په‌مخ ورکړه ،مگر دابیا هـــم هسی‌ولاړه وه. چا مشرانو او سپین گیرو ته دمرغی ادی دکیلی گیدو وویل اوملا صاحب یی وغوښت. بل چا بیـا دباقی اکاد راوستلو غوښتنه وکړه‌نیك محمد خولاله اوله په بونی‌کټ غزول شوی و. هـواکی لادگـو لیوخظونه هماغسی رسمیدل.مگر لاندی

دمرغی ادی په انگړ کی ورته دهیڅاپام نه‌و. ځکه دلته دوی ډیری‌عجیبی پیښی شوی وی. مرغی ادی کیلی‌شوی وه او دهغی یوازینی زوی نیك محمدچی اوس، اوس یی ورته‌داختری‌کاکا لور غوښتی هم وه مړ شوی‌و. دټولو دمور یعنی‌مرغی ادی په‌کورکی‌غم جوړ شوی و، ځنګه کیدای‌شوای بلی خواته پام او ښتی وای. دکلی‌ماشومانو هم چغا، پغا جوړه کړی وه. حیواناتو هم بغاری وهلی.هیڅ‌شی او هیڅوك آرام نه‌و. دهر درز سره کلی خوزیدل خو دمرغی ادی‌حالت لاهماغسی و. کومی ښځی ناڅاپه یخی اوبه ورواچولی. مرغی‌ادی ټکان وخوړاو دهغی سره یوځای یی‌یوه داسی درنه چیغه‌له خولی‌ووته‌چی تابه ویل‌ځمکه یی ولړزوله.مرغی ادی پریوته .بی‌له دی چی وپوهیږی‌څه‌کوی بیایی دکوټی په لور منډی کړی. دنیك دپلار توره‌یی دقران‌کریم سره واخیسته او دنیك په‌سر پوری یی کیښوده. خپله یی‌ناڅا په‌دانګړ څخه د باندی پټوته منډی‌کړی ښځی هم ورپسی ووتی. مرغی ادی‌به‌دټوپونو په ډزو پسی کله لویدیځ او کله ختیځ ته منډی وهلی. کلی‌والو ټولو ژړل خودچاپه وس کی څه نه‌و. تر هغی‌چی ډزبندی وشوه‌مرغی‌ادی دباندی‌وه.درنګ ساعت‌وروسته کلیوالو مرغی ادی کورته بوتله.هلته‌یی‌او ښکو په مخ داری وکړی . دماشوم په شان چیغی یی له خولی‌ووتی او له څو شیبو وروسته یی دزوی په مړی باندی دساندو په ناروپیل وکړ.

دی خیالونو می‌له سترګو څخه‌اوښی تویولی چی یوه ښوونکی راته وویل :

ـ استاذه خیر خودی ؟

اوما په داسی حال کی چی خپلی‌اوښکی می پاکولی او دخیر دکلیمی عظمت می‌له نظره هیڅ شوی وځواب‌ورکړ :

ـ هو خیر، خیریت دی .

زه ږدچم ګاونډه

جلکی

۱۵ ـ ۸ ـ ۱۳۶۶

دی سره جوخت له ځایه پاځیدم او دمدیر څخه مـی‌خپـــل رخصت واخیست. دکلی په لورو خوځیـــدم چی دنیك جان دښخولو په وخت کی حاضروم مازیگروچی کلی ته راورسیدم خونیك جان څوگینټی دمخه خاوروته سپارل شوی و .

زما گناه نه وه باور و کی ز مـاگناه نه وه اخر ما څه کولای‌شول ؟ په ما خو گرانه وه.هو. گرانه وه.مگر نه ، ما می غاړ ەخلاصه کړی‌وه. هغی ته می پوازی همدو مره کولای‌شول. نور می څه په وس کی‌نه‌و. دا هم هغی و غوښتل . مانه غوښتل‌ماکی دا جرئت‌نه و.ما هیڅکله‌دازړه نه کاوه . دی و هڅولم . هو ، د ی‌وهڅولم . هره ور څ‌به‌یی‌هڅولم .ان له هغی ورځی چی گډتلو. مو تر موگډ شوی و. دی زړه راکړ. راته‌ویی موسل .زه به‌یی څارلم . بیخی ډیریی‌څار لم . هر کله به‌یی ستر گـــی راپسی اوښتی . ان چی له موټره‌به‌کوزه شوه بیا به هم ولاړه وه . تر هغی چی موټر خوزیده دابه هســـی‌ولاړه وه اوسترگی به یی په ماپسی اوښتی . په ټول قوت به می دهغی‌سترگی احساس کړی . ربښتیا وایم. د هغی سترگی به لکه چړی ز ما پەشا کی ښخی شوی وی . لاری به‌یی پرانیستی . زړه به‌یی په‌ټوپو کړ.ښه‌ټوپونه یی‌و هل . تر هغی چی به‌پناه شو م. نه ،تر هغی چی‌به موټر پناه‌شو دا به نه خوځیده .ټول مو تـر

به ورته کتل . ماته به یی هم وکتل.خولی ، به می وکړی، مالا دازړه نه لاره . هغه زړه وره وه.بیخی زړه‌وره . هیڅ نه‌و یریده . په مو تر کی‌به یی بنکاره را ته موسل .خبروته‌یی زړه کیده . را نژدی‌به شو ه خواله به یی خلاصه کړه . خو مالازړه نه لاره . مخ به می واوښت، هغی خواته چی دا به می شاته‌شوه.ان کله ، کله به بیا په یوی بها نی مخی ته را غله ټولو به په ما خند ل بنه به‌یی خندل . خو په‌زړه‌کی.بیله دی‌چی‌ماته څه‌ووایی .دابه‌پوهیده‌خوپروایی یی‌نه‌کوله کله ،کله به می ویل چی دا هم ما خندنی کوی . خونه هغه ربنتو نی وه . درواغ‌یی‌نه ویل . څنگه کیدای شوای درو غووایی . هغی په‌ټول ځان ماته‌موسل د زړه له‌کو می یی موسل . خو له‌یی‌وړه وه . دا هم وړه وه. ونه‌یی هم ټیټه وه . مخ یی هم د همدی ونی‌سره برابرو . خو سترگی یی ! سترگی یی ډیری ښا یسته و ی .ډیری ښی و ی .همد غو ستر گو کار خراب کړ . نه توری وی او نه‌خو شنی نه پو هیږم څه رنگ یی‌و. ما هغو ته د کتلو جر ئت نه‌لاره .په‌کتلو کی به بلی خوا ته‌لاړ م محوه کبد م . سد به می له سره وکوچید.د رنگ او د هیڅ‌شی تشخیص به‌می نه شوا ی کو لای . هلته د رنگ په‌ځای ا حساساتو څپی و هلی څه‌څپی وی !سوزلم یی .څنگه می رنگ‌پیژندای شوای ؟اجازه می نه لرله . هو ،اجازه می نه لر له . هغی نه‌پرینبو د م .سترگو نه‌پرینبو د م . احساساتو نه پرینبو د م .ډبید لی‌زړه نه پرینبو د م. خو چی‌شونډ و به‌یی موسکا وکړه ، موسکا نه زړه‌ځیرنه وه ، زه به‌یی هم موسکا ته وربللم .خونه ، مانه موسل. ما ځان‌ساته شونډی می نه بیرته کید ی . خو په زړه کی می د هغی ځار کاوه.هغه هم په دی پو هیده. بنه‌پوهیده په‌خپل‌اثرپوهیده. په دی‌هم پو هیده‌زما په ځان ساتنی. خو لکه‌سو گند یی چی کړی وی پرینبودونی نه‌وه.

یو ځل می ورته و موسل. په‌هغی‌اختر شو، موټر کی تر پایه لاړه. زموږ تر موسسی ولاړه . تر هغه‌ځایه‌چی زه تلم .زړه می و درزید . ټول موټر ځیر شو. ناڅاپه هغه‌ترپای‌ه‌تله . موټر زه څار لم. هغه یی هم څار له .څه خبر ه‌ورته بنکاره شوه‌ټول موټر او مو ږ دوه تنه. زړه می وتړید . غوښتل می څه ووا یم.چیغه‌وکړم .ټولو ته ووایم چی ((څه‌دی))

خو له ستونی می څه ونه وتل. نـــه کیده . ستونی می نیو ل شوی و. د شونډو گناه نه‌وه . و لی‌یی‌و موسل؟سترگو پری و کړل. نه ، نه سترگو پری‌وکړل .هماغو سترگو . د هغـی‌سترگو پری و کړل نو ز ماد شونډو څه گناه وه ؟ولی یی و موسل؟ داکارنه ښایی شوی وای. نوو شول. نو اوس ؟اوس هغه موټر کی و ه .نرپایه تله . تر هغه ځایه . تـــر موسسی . سر کی می و گرځیدل‌چی‌اوه خدایه ! دا څنگه کیږی ؟ دا دی ورسیدو . موسسه د ه .خپله‌موسسه‌ده. موټر نور وړاندی نه ځی. او ه زړه می ډبیده . ښکته شو م او زرخپلی شعبی.ته لاړم . هلته لاناست نه‌وم چی دا هم را غله . له خپلـــی‌خورلنی سره را غله .څه بده پیښه خورلنه یی هم همدلته وه .زه نـــه‌پو هیدم . نو هغه په ټولو شیانـــو پوهیده . ما وویل چی « نـــه،نـــه‌داکیدو نی نه دی» له دفتر څخه‌وړتم. د موسسی انگړته لاړم.څو شیبـــی‌وگرځید م . خونه کیدل. هغه په‌ذهن را خوره شوه . درنه‌خوره شـــوه. بیخی در نه نه وتله . په‌ټول ځـان خوره شوی و ه . د یوی خړی په‌ډول‌وه . بی له کوم شکله. څیره یی نه وه سترگی یی نه‌وی . مخ‌یی نه و . .داوه هو، پخپله داوه خواحساساتو کی . د څپو په‌شا ن ټوله څپه و ه .په ما خوره شوی‌وه.دهغی هیڅ مادی وجود نه و . ټوله څپه وه. ما ویل‌اوه خدایه ! داڅه دی ؟ورو ورو په منډو شو م . تښتید م. ربښتیـــاوتښتید م. خو له‌چانه ؟له هغی نه. هو له هغی نه . راغلم ورسید م .دادی و ځم چی هغه بیاولاړه وه.له لاسه یی ونیو لم. .ښه ټینگ یـی‌ونیو لم. تابه ویل چی غل‌یی نیو لی دی . مخ‌ته شوه .په خوا کی ورسره‌تلم ،تلم او تلم. نه پو هید م خو دی بوتلم . رستورانت‌و. یو آرام‌رستورانت و . کم کسا ن په کی و . نری مـوزیك و. ښـه مـو سیقـی وه.زړه وړونکی وه. خونـه ز مـا زړه . اصلا ز ماسره زړه نه‌و . په ځـان‌نه پو هید م . فقط په یا د می دی چی را ته ویی ویل :

ـ ز ما نوم غوټی د ی .خپل‌خپلوان‌می سره غوټی بو لی . پلار مـــی یعقوب نو میږی . ددی ښار له دووشتمنو څخه د ی . خوز ه ما موریت کـوم. ستا له پاره یی کوم. پـــه‌ماشو متو ب کی‌ستاسو گاونډیـا ن

و. اوس هم ستاسو گاو نه یا ن یو.خو موږاوس هغه خوارکورکی نه اوسو یوازی زه کله ، کله راځم. ستاله پاره را ځم.

نو د ی پیژ اند م . ز مانه په یاد یدل.هویو گاونډی مولاره.هغه دومره مور نه و .کیدای شی مو ر شوی وی.خو دا می په یا د نه وه . بیخی می په یاد کی نه وه .خوبیاهم ما بایدمجبورآځان ورپیژندلی وای .

ـ ز ما نو م سپین جان دی ، دصفت خا ن زو ی یم وا د ه لر م ، نیك مرغه یم .بنه یم ،ژوند می بدنه دی .

ددی خبرو په پای کی وم چی پام می شو چی هیڅ غږ می له خو لی نه وو تلی .هم هسی می دا خبری په زړه کی تیری شوی و ی .هسی د څپی په ډول . خبری می نه شوای کو لا ی هغه راباندی خوره وه .اوس یی نو په ټول ځان باندی ځان را ته خورکی.ماته نور څه نه و پاتی . همدو مره دټکان په صورت کی و پوهیدم چی غږ می له خولی نه و وتلی. بیا می نو هڅه ونه کړه . څه نه کیدل . هیڅ نه کیدل . هغی نه پریښو د م . هغی اجازه نه را کوله او همدسی راباندی خوریده . له څه و خت وروسته یی زه د کور د روا ز ی ته ورسولم. په دروازی دننه شو م. نورنو هغه نه وه .هغه په ما خوره نه وه . هغه تللی وه . خوریدنه یی هم تللی وه .بیخی تللی وه . ذهن می ورو ورو تشیده ځیر شوم «داڅه وشول؟ » دازه دومره دوخته څنگه کورته راغلم؟هو، بل چا راوستم . را غلی نه وم ورو ، ورو عادی شو م. کالی مې وایستل ،په جب کی می چا پیسې اینبی وی. هغی اینبی وی.دادهغی پیسې و ی . هو ،دهغی پیسی وی . خو څه نو ؟اوس خویی ما ته راکړی وی . په کار بو خت شو م. نور مې زړه سپك شوی و . په ځان پوه وم.په ځان زه په خپله خورو م. قدر ت می بیرته په لاس راغلی و.اوس پخوانی وم .هماغه پخوانی . دسهار څخه مخکی سړی وم. عا دی سړی و م .ذهن می کار کاوه . خپله و م .نور څوك راسره نه و . مکتب خلاص شوی و. زامن می راغله. بڼځه می راغله . کورنی می بیرته جوړه شوه.زامنو می خوښی کوله هرڅوك په دی څلورو کی خوښ وو. یو د بل دخوشالولوله پاره و. بی له دی چی یو په بل خواره شو. ټول په ټولوخواره ووخو څه خوریدنه !له ساده صفا او صمیمیت نه ډکه خورید نه وه.دټولوخوښیده ه،زما هم خوښیده .

خو داونی د سر ور څ. او هو .هو ، داونی د سر ورځ نوځه عیجبه ورځ وه . داسی ورځ‌مانه وه لیدلی.بیخی بل ډول ور څوه .زماگناه پکی نه‌وه. خوپکی‌راغلم. هغی راوستم.هغی په‌خپله راوستم.ز ما هیڅ‌گناه نه‌وه. داوه .هو ، داوه . داگنهگاره‌وه.پخپله داوه .هیڅوك بل‌نه‌و. همدا دشتمن یعقوب خا ن لوروه. همـــداخپله گنهگاره وه . په‌تیره بیا زه‌خو نو بیخی گناه نه لر م. هر څه دهغی‌و. گناه د هغی وه .دگناه‌وسیلـــه دهغی‌وه‌څای دگناه ته هغه په خپلـه‌راغله. زه‌یی هم راوستم. ز ما داخپل څای و . دا را غله . داپخپله‌راغلـه.هو،یوه‌شیبه صبر وکړی .خدای‌له پاره .صبروکړی . یوه شیبه و خت‌راکړی . دا د ی درته وایم یی. هیڅ شی‌نه پټوم . ربښتیا وایم .سوگنددی . یو ټکی دروا غ نه وایم. هغـه دا دی بیاپه ما خوره شوه . هغه می‌نه‌پریږ دی چی ـ هغی په هکله‌دروا غ ووایم . هغه می نه پریږ دی .ددرواغوتصور هم‌نه شم‌کولای . آخر هغـــه خپله را سره ده.هو، هو راسره ده.دادی ز ما په ذهن را خوره شوه . هغه په ما خوره شوه .په‌شونه‌و،په‌زړه، په‌خوله‌می‌په‌ټول څان می‌حوره‌ده نودرواغ نشته . هیڅ تصور یـــی‌مه کوی .

هغه را غله.په هغه ورځ‌درښیم.لکه د هر ی ورځی‌په شان را غله . موټر ته‌و ختله . دا ځل بیا راغلـــه‌زموږ موسسی ته را غله . خو داځل زما سره . ټولی موسسی کتله. دموټرو له څایه یی بوتلم. رستورانت ته. هماغه رستورانت ته. موسیقـی‌وه .نبه موسیقی وه .څه جادو گره موسیقی وه خو ماته‌نه . په ماهیڅ‌شی‌اثر نه‌لاره. په‌ما دا خوره شوه .لـه مایی داوریدو،سوچ کولواوخبراوکولوتوان اخیستی و.هرڅه دی‌کول مینه همداسی وی.هو همداســـی و ی .شاید همداسی وی. ز ما سره‌دپوهی توان نه‌و. دی داسی ویل. مادمنلـو نه منلو له‌پاره څه نه لرل. دی راته هرڅه ویل. له مینی‌یی راته وویل.له‌تودی مینی .له‌هغی‌مینی‌چی‌دخوښی

په‌اوج کی‌پای‌ته ورسیږی . په هماغه‌سکر کی . په اوج دسکرکی څه خوند وره ده مړینه. په مینه کی‌مړینه‌هغه هم دو صال د شیبی دپای‌مړینه. چی‌بیا بیلتون نه‌وی . یوپه‌بل کی‌د ګډیدنی په حال کی‌مړینه. .داسی ګډیدنه او مړینه څه جالبه ده. څه‌خوند وره ده . دی داسی وویل:

ـ ته راسره مینه لری ؟

ویی پوښتلم .څوا ب ز ماپه وس‌کی نه‌و . په خوله می هغه خوره وه څواب یی ووایه :

ـ هو ، ډیره مینه لرم .

ما څه‌ونه ویل. زه نور په خپله‌زه‌نه‌وم .زه هم هغه‌و م .

وروسته له رستورانت‌څخه ووتو.دی خپل موټر غوښتی و. هم یی‌به موټر کی‌کینولم. دا په خپله‌کیناسته.کیناسته موټر ته. په تیزی تله.ډیره په توندی‌وتله . تادی یی وه.ډیرتادی‌یی‌وه اوس می هم د ذهن‌تصویرونه هغه توندی ښیی . څو مره په‌توندی‌سره تله . خوزه هم تلم‌زه خونو نور نه‌وم. داوه . اوس دا تله خپله‌دا تله‌بویی تلم له ځانه سره . هلته په‌موټر کی‌یی بوتلم . مو ټر و درید.دانبکته‌شوه. بیا هم ښکته شوه. د لته په‌دی ځای‌کی هم دا په ما خوره وه. ز ماجیبونه ولټول شول. ګوتو می، نه ، نه د هغی ګوتو کیلی ګانی واخیستی‌دروازه‌یی‌پرانیستله ننوته .ننوتم.په ټول ځان. هم پخپله ننوته او هم په‌ما خوره ننوته . وړا ندی لاړه: ز ه هم‌لاړم.هلته‌دخوب لوټی ته یی بوتلم.بلده وه .ښه‌بلده‌وه کوریی ښه پیژاند. غولی‌یی پیژاند.د یوالونه‌یی‌پیژندل.کوټی یی پیژندی. پریو ته. زه هم پریوتم .ز مانه دی په یادتصویرونه‌یی دا سی ښیی . هغه‌ګرد، ګرد تصو یرونه یی دا سی ښیی هغوی دا سی وایی چی زه هم‌پریوتم زمانه د ی په‌یا د .زه‌یی لوڅ کړم.بیخی بربنډ شو م. هیڅ راکی‌نه و

پانی . جامی یی ټولی رانه وښکی .دا هم لوخه شوه . بربنډه شو ه رانژ د ی شوه .بیخی نـژدی شوه.نور نوپه‌منځ کی لری وا لی نه و. اوس مو هر څه ګډشوی‌و. هسی‌خوپه‌دواړو دا خوره وه.دوه خپل وجود ونه‌یی سره ګډ کړه. داسی ګډ چی‌بیاهیڅکله ج لانه‌شی .تل له‌پاره ګډوی د هر چا په مخ‌کی‌ګډ وی . دی داکاروکړ. دی په خپله .زه خبرنه یم. په هیڅ شی خبر نه‌یم. ډوب‌بی‌کړم.په‌ځان کی‌یی ډوب کړم. ز ما په ځـان کـــی پـــه خـپـل ځا ن کی. هو مره ډوب‌چی‌نور نه‌وم. زه‌نور نه‌وم . ټوله داوه . هر څه داو ه .هو،هر څه داوه نو اوس تاسو ووایی . هوکی ، هوکی ،تاسو ووایی چی دی‌کی ز ماځه‌ګناه ده؟ها؟زماځه‌ګناه‌ده؟ زه بی ګناه یم. دا بخپله راغلی و ه‌کورته .ز ماکورته . ارمان یی همداو. د هیچا ګناه نشته . دایی ارمان و .خپل ارمان یی. دبل چانه و. ما خو وویل. مخکی می هم وویل.

له غر می وروسته یو شور جوړشو . یو څوك پریوتل . کتل می‌زما زوی و. کشرزوی‌می‌و. ګولی یـــــی‌خوړلی وه هغه تبرپه لاس‌کی لاره . په وینو لیت ، پیت‌و. زه‌په جا مـوبټ شوی وم. هغه‌هم پټه شوی و ه . په لاس کی‌یی یوه زړه تو مانچـه وه. ګولی‌یی چلولی . زه د زو ی په لور ټیټ شوم . خولا اوس هـــم‌هغه په ما خوره وه. ویی نیولـــم. پورته‌یی کړم. بیایی ګو لی وچلو له.خو نورنو بل لاس ونیوله . تر څو او بنټله سوری ، سوری شوه او .بریوته .ز ما زوی ویشتلی وه .بنځی می هم ویشتلی‌وه. دوا ړ و ویشتلی‌وه. هغه پریو ته ، خوره پریو تـه. خو په ځمکه پریو ته .نوره په ماخوره‌نه‌وه . په ځمکه خوره وه . په خـود

لیونتوب

عقرب ۱۳٦٦

شوم. کو م څوك راغلل او زه‌یـــی‌ونیوالم . دادی دلته یم.آیازه‌هم مـــړ شم؟ نه، نه... نه،نه . زه‌نه بایـــد مرم. ماته ښایی ژوند ی و م. زما گناه نه‌وه. دادهغی‌گناه وه. هغه‌راغله‌مړینی ته. ما نه ده راوستی. په‌خدای که‌به ما راوستی وه ز ما خبره واوری‌اوه خلکو !زما خبره واوری ! . .. زه ... زه ...

زه لږ ناو خته راو رسیدم. نـورملګری می هم راسره و ټول یو ډول وار خطا و . ویریدو چی دکورځښتن‌موونه‌دګی. آخر موږ یی درانه‌میلمانه و.ز ما منظور دی چی موږ یی ډیـرنژدی دوستا ن و . په مونږ کی‌یونیم ډیرورسره نژ دی و . ز مو ږټولو نه.ځکه هغوبه په خپل منځ کی‌دکورنیو راشه درشه هم کوله.ز ما تر دی حده‌نژدیوالی نه‌و. زه ، یوازی ورسره ملګری و م .یعنی یوا ز ی زه یـــی‌دوست و م . کورنی مونه ســـره بیژندل . نور مو هر څه سره ګډو.مقصد می دګډو وډو څخه دی.ټـول یوپه بل خبرو. یو دبل په حـــال ،غوښتنو ، کرکو اوانګیر نوپو هیدو. زه په دوی کی شاعروم. لیکنه‌می‌هم‌کوله . د کیسو لیکنه .ځینی را کی منصبداران و یو دوه تنه راکی عادی‌کارګر و .

زمو ږ په ډلی‌کی دو ه‌کسه‌شته من‌هم و. هغو ته مود غارتګرو ا صطلاح د هغوی دقاچاقی شه من کیدو په‌وجه‌ورکړی و ه . هغو ښی ډیری پیسی ګټلی و ی . په ټولو کی زه غریـب‌وم . ماځه نه لرل .ان‌په‌همدی شپـه

می هم په جیب کی‌څه‌نه‌و . ټول ټال‌سل روپی می لرلی. نور څه راسره نه‌و . خو زړه می ډاډه و فکر مـــی‌کاوه چی که پیسو ته می ضرورت شه نو شته من خو را سره دی .هغوی به می پیسی‌ورکړی. ددی‌خو ویره راسره نه‌وه . خو‌نن ما نبســـا م‌ماته بل ډول ښکاریده ...

نه‌پو هیږم و لی می تللوته‌زړه نه‌کیده هیڅ کله‌داسی‌نه وم‌شـــوی. هرکله به ددی سړی‌کور ته د زړه‌پەمینه ورتلم. نن می زړه بده پیښـــه رابنیله پښو می د تللو اراده‌نه‌کوله‌ماسپښین قضا او ماز یگر لو ړوچی زما دا نور اندیوالان کورته را غلـــل.چاټوکی راپوری وکړی او چا هـــم کنځلی . خو کنځلی هم ټوکی و ی .ماپه هسی بی ځایه د لیل دنه تللـــو خبره وکړه . دی‌کی‌یوتن غارتگر ډیرپه قهرشو . هغه سره می خبـــره واړو له. خو نورو مداخله وکړه اوزه مجبور کړای شو م چی ورسره ولاړ شم. خو یوډول وار خطایی می‌احساس‌کړه.دوی‌می دمیلمنوپه‌خونی کی کینول او خپله لاړم چی زیـــره‌وخریم. له څه شیبی وروسته تیـــار شوم او ټول و خوځیدو .

دوو شتمنو خپل مو ټرونه‌راوستی‌و. په موټرو کی کینا ستو او زمو ږ اندیوالانو په اصطلاح دتریخ شربت‌خان کورته و خوځیدو . خو د هغـــه کور دښارپه بل ګوټ کی‌و.پەلارکی‌څو ځایه‌و دریدو. اندیوالانو مـــی شراب وا خستل .یو دوو دچرســـوتلی هم راونیو ل . دی کی‌یوه تـــن وویل:

ـ هلکو !تریخ خان به داشیـــان‌برابر کړی وی ضرور نه دی.خو د شتمنو نه‌یوه تن وویل:

ـله هغه سو ګته‌به څه خیـــــروګوری. یو څو بوتلو نه‌یی برابـــر کړی دی .ټوله‌شپه اوهغو مره‌کـــم‌شراب نه‌سره جوړیږی .

په موټر کی کیناستو او بیاموخپل‌حرکت ته دوا م ورکړ. نوچی‌ورسیدو هوا بیخی تیاره وه .تریخ شربت‌خان‌به دروازه کی ستړی مه شی راسره وکړه او دیو دوو کنځلو سره یـــی‌انګړ ته ننویستو، ور وریی‌هم‌ستړی مه شی راسره وکړه او له ستـــړ ی‌مه شی خواره مه شی نه وروسته یی را ته‌وویل :

ـشربت خان خوویل چی تاسوکار ته راځی !بیا اوس خو به کم تر کمه په پنځو بجو راغلی وای .

په مو ز کی یوه تن‌هم د هغـه دنوکه توا ن نه‌لاره . نو له دی ویری چی دستی ټوکی رابوری شرو ع نه‌کړی ډولو په مج‌مج (منگ منگ) کی دهغه خبره سره تیره کړه. اوپه‌غلی ډول د میلمنو کوټی ته ورسره لاړو .

دا کوټه ښه لویه کوټه وه.دنیمایی‌څخه په لنډ وبله کو ټه ورســـــره ننښتی وه چی هغه هم‌ه مدو مره‌لویه‌وه . ددوا ړ و دمنځ برید په‌برخی‌کی یوه درنه پرده وه. د پر دی‌په‌لـر ی‌کیدو سره دواړه کوټی یو کیدی .زه ددی کوټی سره ښه بلد و م. ډیـرځله پکی ناستو م. یواز ی . لـــه انډیوا لانو سره . د شربت‌خـــان‌د نورو میلمنو سره اوان بی‌له شربت خانه هم. نو کوټه می ښه پیژ انده.ټوله بنګله می پیژانده . شربت خا ن په ژوند کی بدنه و . پیسی یی‌لرلی.هغه تجار ت کاوه . ز ماآشنایـــــی ورسره دبل چاپه واسطه شوی وه .زما یو دوست زه ورپیژندلی و م او شربت خان له دی چی ز ماخوبانـد ینی‌ژبی زده وی‌او لیکوال او شاعر وم زما سره‌تاوده اړیکی ساتل.سره‌له‌دی چی ډیر سو گت و خو زمـــا سره داسی نه‌و . شته منو به ورته‌تل دممسك او بخیل خطاب کـاوه. خوده به ویل :

ـکه لکه تاسویی وگټم نو بیا بی‌ستاسو په څیر خرڅوم هم .

په دی مانبا م کی چی دی کو ټی‌ته ننوتم یوبل ډول ا حساس مـــی وکړ. یو ناپیژند ل شوی ا حساس.بیخی ورسره بلد نه‌وم . کله داسی نـه‌وم شوی . دا لومړی ځـــل‌وښایی وروستی ځل . زړه می‌یونری شان رنځ پیداکړ. یو مبهم رنـځ‌دی کی می طاقت ونه شو اوخپل‌یو دوست ته می وویل :

ـ و لله نن بل‌ډول یم. یو ډول‌لیونی احساس می زور وی .

هغه د واړه راپوری و خندل او داخبره یی نوروته‌وکړه ډول‌ډول‌ټوکی یی راپوری وکړی.خوزما حالت‌رښتیانبنه نه‌و.لکه پیښه چی‌راته‌مخکی‌وی. بی‌ښی اوبی بدی ژړاته می‌پرزه کیده‌اوښکـــی می پاریدی خـــو نـــه پوهیدم. د ورځی هیڅ داسی پیښه‌نه‌وه شوی چی ما غمجن کړی نـــو

ناڅاپه د ذهن په دننه کې یوه‌پخوانی‌لوستی خبره راپه یاد شوه . هغه د تیلی پاتی او شپږم حس خبره .سره له دی چی په دی خبرو دو مره باوری نه وم ناڅاپه می زړه‌و هڅولم‌چی لاړ شم .ددی کورنه لاړ شم‌خپل کور ته . نوبیا د شربت خان خبره‌په منځ کی وه ماهغه نه شوای‌خفه کولای. هغه خو می د څو کلو دوست‌و. که ما د تللو هڅه هم کړی وه چا نه‌پرینبو د م . شتمنو ،منصبدارانواو کار گرانو نه پر ینبودم .مجبور وم هر څه چی راځی وی‌منم. او په‌زړه غټه تیږه کیږدم. خو کله به‌هر سړی داسی شوی وی چی هر څه‌غواړ ی له‌یوشی نه وتښتی او ذهن تری تش کړی هم هغو مره پکښی‌دوببیږی . ورو ورو می د زړه غونی حالت ځای ویری ونیو . کلکی اوډیری درنی ویری . یوځل خو می په‌ویری شاو خوا ته وکتل. هیڅ‌داسی د شك وړ کوم څه په‌نظر رانغلل . شك، ویری او ډار د هغی‌ځای ونیو . یو ځل می په زړه کی وگرځیدل چی :

((ته شاعر یی شاید د کوم شعری‌حالت د زیږ یدو وخت وی .))اودی کی می د خپلو انډیوالانو ټوکی راپه‌یاد شوی . خو دیوی لنډی شیبی‌په دننه کی وپوهید م چی هغه حالت‌نه‌دی. ځکه دی حالت ویره لر له. نوله څه نه داحالت وزیږید؟ نه پوهیدم.زړه می په تنګ شو خوا کی‌ناست ملګری ته می بیا دا خبره وکړه.هغه‌بیا را پوری و خندل او نورو ته‌یی‌هم وویل :

ـ چرګه بیالکه چی هګی‌اچوی .زړه یی په‌تنګ دی .

هغه بل غږ وکړ:

ـچپه یی‌کړی چی هګی یی‌یوه‌ورځ‌وځنډیږی .

بل زیاته کړه:

ـوګوری چی ربښتیا هګی‌لری ا وکه‌نه .

ددوی خبری دا نډیوا لانوله کړی‌څخه ووتی .ټولی کوټی را پوری وخندل . او بیه ډیر یی وخندل.ځینو سره له د ی چی په دی خبرونه پوهیدل خو په ماپوری یی وخندل .هغو شاید زما په‌سر پوری خندلی وی .ځکه ما واوریدل چی یوه‌تن‌زماپه لغړ سرپوری ټوکه‌وکړه .

اوس نو ټولی کوټی زمونږ دانډیوالانو کړی ته کتلی.نووزلمیانو

خو بیخی په اریانتیا سره کتل. زموږ دول عجیب ترکیب ته یی کتل. زموږ په کړی کی خنداګانو هغوی ځیرکړی وو. خو په کړی کی زمانه خندلو هم یوځو کسان متوجه کړی وو. مابه کله خلکو او کله دی خپلوانه یو-الانوته کتل. هیڅ نه پوهیدل چی زمادننه څه تیریږی. فقط یوتن پکی و.... هویوتن پکی وچی پوهیده. هغه نبه پوهیده. کارګرو. داوبدلو کارګرو. خو پدی وروستیو وختو نوکی یی هوا لوړه شوی وه. د هغه پوهی هم ماته ګټه ونه کړه. ځکه هغه د خندا وولیونی و. زماهم خندا خوښیده. خونن نه. له دې نه می هم هیله داوه چی ما درک کړی. د خندا په ځای مایی خوا خوږی ته ضرورت لاره. خو هغه داسی د خندا اوټوکو ټکالو څپوڅان سره په هوا کړی وچی ماته یی ژور پا م نه شو او ښتی. هغه ګرم نه و. زه باید داسی نه وای. خواوس داسی و م. د هرنوی سړی په راتګ می ویره زیاتیده. دول دول خلك راتلل. کوټه ډکه شوه. خو یوه څنډه لا هماغی تشه پرته وه. هرڅوك چی را تلل نود کور به له خوا به دکوټی بر سرته اویا شپږ و نور وخنډو ته لیږل کیدل. ددی دووکوټو د تقاطع په ځای کی چی ددواړو کوټو څخه لیدل کیده هیڅ څوك نه کیناستل دی موضوع زما توجه ځانته واړو له او یو څو شیبی می ماغزه پری بوخت شول. خو ویری بیا خپل وزر خپور کړ. او ان له دی څخه یی هم استفاده وکړه. زه په دی موضوع ونه پوهیدم چی ولی می ویره وار په واردرنیده. نبه درنیده. نبه شیبه وروسته مې پا م شو چی کوټی ته یوتن راننوت. تنبور ورسره و. دو یم سړی سره هم تنبور و. بل سړی سره هارمونیه وه. ورپسی سړی یی دول پر غاړه واو پنځم یی رباب په غیږ کی نیولی و. دوی په هم هغه تش ځای کی کینا ستل.

هر چا خپله ((وسله)) له ځانه سره کیښوده. یوځل یی ټولو خلکو نه مخونه وګرځیدل. ټوله کوټه یی له نظره وویسته. هر چا په خپل وار خلك وکتل. او داسی راته ښکاره شوه چی خلك لټوی. کو م څوك کو م ((درونده)) اویا ((ژور))سړی لټوی په یوی خیری کی خو ویره را ښکاره شوه. په ټول ځان می داویره هم احساس کړه. مګر له څه شی ویریده؟ نه پوهیدم. غوښتل مې ورجګ شم او ویی پوښتم. بیا می له ځانه سره وویل: ((څه یی کوی څوك به درپوزی و خانه دی.))

کیناستم . زړه کی می خرخشه‌وه. نه‌پوهیدم څنګه یی ورکه کـم . د ی خرخشی ز ما ویره نوره هم ټینګـه‌کړه .

په خوا پوری می ناستو ملګرو دخندا یو سور جوړ کړی و.هر چـا خبری‌کولی او خندل یی. زه‌نژ دی‌کنج ته ناست وم . اویو څه ګوښه وم . زه نور د ټوکو له منځی څخه‌وتلی وم . او په خلاصو غټو سترګو مـی هـم هـغه ځـای څاره هغـه‌د ساز ځـای . بیا نو هغه یوسړی هغه چی‌په سترګو یی ویره خوره‌وه‌د ی‌کی ورو یو سته من انډیوال مـی رانژدی شو :

ـ ته خورښتیا نن ښه نه‌بی .ماشربت ته هم مخکی وویل . هغه‌وایی چی که مړهم شی نه شی‌تلای.اصلی‌میلمه یی‌هم ته‌یی .هغه وایی‌چی نن شپه به‌بل ډول شپه وی .

ما په ویریدلی حالت‌خو بی‌له دی‌چی‌خپل انډ یوال پوه کړم ورنـه وپوښتل :

ـیعنی څه ؟بل ډول شپه په څه‌مانا؟

ـ ولی !ته‌نه پوهیږی ؟اخر نـن‌واده دی .

په دی خبری پوهیدم خـو داد((بل ډول)) کلمی خوند رانه کړ . هغه‌ز ما د مازیګر وار خطایی یـی‌تکرار او درنه کړه . سرکی می بیلی بیلی پوښتنی وګرځیدی : ((دبـل‌ډول نه‌منظور څه‌دی ؟)) داسی‌یوځو پوښتنی می له ځانه وکړی . خو زړه‌می طاقت ونه کړ. لاړم چی‌له‌شربت خان څخه پوښتنه وکړم. هغه می دانګړ ددروازی سره بیا موند اوخپله پوښتنه می تری وکړه. هغه راپوری‌وخندل او په سړه سینه یی په او ږه وټهولم او و ی ویل :

ـ لکه چی ښه نشه یی . ربښتیاتاسو شاعران همداسی یاست.ګوره چی څه‌خیالات دی په‌سرکی‌ګرځیدلی‌دی . چاته‌یی ونه وایی چی لیونـی به دی‌وبولی. څه چی اوس ډوډی‌شروع کیږی .

زه بیرته کوټی ته لاړم . هلته‌می‌خپل ځای ته او له هغی سره‌ســم خپلوخیالونو ته لاړم . او بـیا د ی‌فکر ته لاړم چی د خپل خیال اومو- هومی پیښی تر منځ یوه را بطـه‌بیا مومم . هیڅ ډول رابطه می بیا نه

موندله .ټول ا ړیکی (خیالی‌اړیکی!)می ولټول گټه یی ونه کړه. پری‌ونه پوهیدد م . سترگی می بیا هم هغه‌ځای ته واوښتی . هم هغه‌د تقا طع یکی ته .هـ لته لاهم یو دوه ځایو نه‌تش و . خو څوك نه پری کیناستل. خو شیبی تیری شوی پدی کی‌یودوه‌کسه ددرواز ی دپردی له شا نـــه بنکاره شول . مخکنی سړی‌یی‌توری‌وطنی جا می اغوستی وی. یـــوه بنه ((مشهدی)) لونگی یی په‌سروه . بنه دلو ړ وتلو بو ټان یی پـــه پښوو .غټی‌غټی پریتی وی. بنـــه‌پاکه او ((سوچه)) څیره‌یـــی وه سترگو یی نڅا کوله. درا ننو تـــوسره‌یو ځای یی ټوله کوټه له نظره وویسته . او یو ډول پیکه‌موسکایی‌وکړه .بیا زر لاړ او ((هلته))کینا ـ ست. په ده پسی دو یم‌تن‌رانوو ت.دا بنځه وه منظور می د بنځینه‌جنس څخه دی . زیږجمپریی ا غوستی‌و.د کمیس لمنه یی ترپنډو پوری وه. زیړی او نوری پټاری یی لرلی یوڅه گنڅی گنڅی وه. دملاڅخه پورته کمیس څلور برخی لرلی . د شا له‌خوا کمیس بنسی ته زیړه او کین ته توره پټه‌لرله.اومخی‌ته‌بیا بل ډول‌وه.یعنی بنسی ته توره پټه او کین‌ته‌یی زیړه پټه لرله . ویښتا ن یـــــی‌گلگوټی و.

... او ماچی کله داو لید له‌دهغی‌لمنه می و لیده د هغی د کمیس تور او زیړ رنگونه می و لیدل نو داسی‌می وانگیر له چی دویښتانو‌گلونـه یی هم زیړ او تورو . او همدا سی‌هم‌و . کو م چا می په‌خواکی‌وویل:

ـ څه بنه دوه زیړ گلان یی پـه‌ویښتا نو کی ټومبلی‌دی !

رښتیا هم دا زیړ گلان پکی و.اودی خبری ماته نوره هم زماانگیرنه درنه کړه . ز ماله بدو تالو هغه ماته‌مخامخ کیناستله او لو مړی یـــی سترگی په ما ونښتی .په نظر کی‌بی‌هم زیړ او تورسره گډو . وروسته یی‌نظر په نورو خلکو واو بنست .ټوله‌کوټه یی وکتله . وروسته‌ی نظر بی خپل خوا پوری سړی ته واوښت.

هم هغه سړی چی له دی نه مخکی‌کوټی ته‌را ننووت . داهغه سړی‌ته دومره نژدی نـاسته‌وه‌چی تابه‌ویل‌په غیږ کی یی ناسته ده. وروسته له کتنی دوا پوکوم څه وویل ا وویـی خنـدل. ماته دانسی بنکـاره شوه چی خندا یی هم هم زیړه ـتوره‌وه . په خندا کی‌یو مر موز څه‌نغښتی و. هغه څه چی زه پری نه‌پو هیدم .مگر شته‌والی باندی یی‌وپو هید م.

له هغی پرته خندا یی ډیره پیکه‌وه. یا هم ماته پیکه ښکاره شوه . هرځه چی و دا خندا اوږده شوه . یـــوی‌خبری د بلی او یوی خندا دبلی ځای نیوه .زه ځیرشو م اوان دا خیا ل‌راسره پیدا شو چی که د شونډو و له حرکته په څه وپوهیږ م خو هیڅ‌ونه شو ل .پا م می شو چی ((څه لیونی کار دی.)) ((زماپری څه‌هرڅه‌چی وایی وایی دی .په ما پوری‌هیڅ اړه نه لری .)) مگر داسی نه‌و .فکرمی وکړ ددی ښځی او پیښی ترمنځ کوم اړیکی شته دی. بد بختی دلته‌وه چی زما د خیالی پیښی څیره لانه وه معلو مه . هسی دیو مفهوم پـــه‌ډول زما په ذهن کی شته و. نورلاپه عمل کی څه نه و .

زما د ذهن د ننه اخ وډب تو دیده‌حیران‌وم چی‌و لی . ددی احساس په کامل درك کی عاجزوم . ذهن‌له‌یوی‌موهومی پیښی ویرولم. په‌زړه کی‌می خرخشه پیدا شوه . اواوس دد ی‌پیښی او ښځی ترمنځ یوازی یـــو اومړی تار را ښکاره شو. پوره‌پری‌ونه پوهیدم خو یو ډول رابطه وه‌چی همدا اوس د هغی د را تگ څخـــه‌وروسته وځلید ه. لکه یو پړك ا و بس. او دا پړك اوس دو مره‌روښانه‌راته ښکاره شو چی باور می‌تحریك شو. زړه را ته وویل چی پوښتنـــه‌تری وکړم . زر به می په ذهن‌واکمن شوم . یو ځل می ځان را ته خندنی‌ښکاره شو .وړه موسکا می وکړه . کوټی ته می نظر واچاوه . چا خند ل‌چاکتل چا غوږ نیولی‌و. ځینو هـــم ځینی کسان څارل . عجیبه را تـــه‌ښکاره شو . اوس می د هیچا پـــه سترگو کی څه ونه لیدل . ا ن هغه‌دیو نفر په سترگو کی هم ویـــره رانیکاره نه‌شوه . دا ((ویره))یوازی‌زما مال و. یونیم ځل خو به می‌خان ته زړه ورکړ چی : ((څه نشتتـــه.انگیر نی‌چیری رښتیاوی ؟))خودزړه باوړی توب ته به‌چورتی شـــا نـــی‌شوم . هغه ډیر باوری و . هیڅ‌شك یی‌نه لاره . او ان یو ډول تیار ی‌یی‌هم نیوه . ځکه ما د زړه‌ناروغی‌لرله. او زړه می ورو ورو تلقینو لم چی هرډول پیښی ته ا ماده اوسم. خو د ویری او خرخشی ډیروا لی له عقله‌ویستم . تر دی چـــی یووارخومـــی له ځانه سره وویل چی :((لیونی‌مه‌کړی .))

ما ښا م تیاره و . د ځینو پـــه‌اصطلاح ماخستن و ـ ډوډی راغله دهرچامخی ته گیلاسونه‌کیښو دل‌شول . د ((تقاطع په نقطی)) کی‌هم دغه شیا ن قطار شو ل . دی بـــی‌واره گو تی ورو ړی‌او ډیر په‌زغرده

یی بوتل خلاص کړ. گیلاس یی‌ډک‌کړ . بی له څنډه یی په‌سر واړاوه. ماهك پك ورته کتل . سره لد ی‌چی سترگی می کله کله خپلی‌مخی ته هم اوښتی ، خو هغه می ډیره‌خارله . په څو لنډو شیبو کی‌یی څیره دو مره زما په ذهن کی‌کیناسته‌چی فکر می کاوه کلونه کیږی هغه می لیدلی ده بنایی دلیل یی د هغی‌په یوازی توب کی و . هغه زموږ نارینه و په ډلی کی یواز ی و ه.داسی را ته بنکاره شوه لکه پـــه پردی وطن کی چی سړی مسافـرشی . زړه می پری وسو .ویره می

رقیقه شوه او ماورته کتل چی‌دادی‌په زړه سوی بدلیږی . ډیر کلـك زړه سوی باندی . خوهغه خرخشه‌می‌لاپه‌زړه کی‌وه . هغه‌می له زړه‌نه وتله . هم هلته ناسته وه . کله‌کله‌به یی زړه وډ باو ه . ویره‌یی‌دسره ژوندی کړه . خو د ډو ډی خوړلوبهیر ډیر تو د شو.خو لی‌خلاصیدی او د څو ورځو مخکی ژ وند ی‌شیان‌د گولو په څیر د گیډی‌دوزخ ته‌تلی دا هم عجیبه شان سیل و . زه دلومړی ځل له پاره دی ته متو جه شوی وم . پخوا می هیڅکله‌اوښایی‌په ټول ژوند کی می ددی خبـری په‌باب فکر نه وکړی .ځینی وخت‌خو به می شمیر ل :((دادی یـوه گوله خو لی ته شوه .نو څو مره‌ژوندی حجری به‌یی په کی خو لی وی؟ دادی غو ښه په مړی کی تاوه‌شوه . نو دکوم ژوندی حیوا ن د وجود ټوټه به وه ؟)) او بیا خونوخاصتاً هغی ته می کتل. نا څا پـه می په ذهن کی را غلل چی دا خوهم ژوندی شیان خوری . منظـــور د ژوند وشیانو دو جود بر خـــی‌دی .ټول د ټولو په غوښو او ځانو ا خته و. عجیبه ((دنیا)) وه. دبیالو ژی څخه می بد را غلل چی‌پدی حقیقت یی پوه کړی و م . خودومره‌وخت ورته نه وم متو جه شوی او دادی نن په ټول قوت می دا حقیقت‌حس‌کړی و .

د ډوډوی په‌پیل کی وم چی په‌خپلی تبی و پو هیدم . اوس مـی تبه پیل شوی‌وه.بنایی هم پخـواشروع شوی وه .لږ وار خطاشوم . ځان می ډیر تو دشـوی و . دد ی‌خبری مانا داوه چی زه ناسازو م . شاید د ذهن ویره او خر خشه می‌هم‌د همدی څخه وی . نو‌بیا می له

PROPERTY OF ACKU 2630

ځانه سره وویل چی :((ما خو پخواهم تبی کړ یدی . او داسی نه وم نو دی نه بنکاری چی زماو یره کومه بله ریښه لری .))

او ددی سره ګډ می سترګی په کوتې و ګرځیدی. ټولو خوراك کاوه. یو سور جوړ و . لاسونه بنکته کیدل ګو لی جلاکیدی د پنجو دننه به مړی د ګیډی دروازی ته وړل کیدی . د غا بنو نو ژرندی به پری ګرځیدی. امیده میده به یی کړی بیا به یی دستونی له لاری د وز خ ته و لیږلی دی کی می چیغی ا حساس. کړی کړیکی وی . کړ یکی وی .غوږونه یی راته وخوړل . وار په وارتیز ـیدی . لوړ یدی . چغی . کړیکی ان د هغی له خو لی هم کړیکی راتلی. یو ځل خو می غو ږونو ته ګوتی ور وړی . زر متو جه شو م چی په خوابوری می د ناستو کسا نو را ته پا م شو . بیا می ځان ته فکر شـواو په یوی ډیری سپکی اودروا غجنی موسکا سره می بیرته د ډوډوی په خو ړلو پیل وکړ.ز مامخ ته ګیلاس هم ډك شو او نسبت نورو ته ډیرډك شو . خو ما ګوتی ور نه وړی ځکه زړه اجازه نه راکو له .دهغی په خاطر می هم نه ځنبل. علاوه له دی چی بنه می نه ایسیندل زما سره یو نظرو .هغه داچی سړی و لی پـه زوره ځان له عقله جلاکړی . حال داچی په همدی عقل ځان له نورو ژوند یو څخه جلا کوی . نو بیـاضرور نه دی چی شراب وځښی خـو نورو ګیلاسونه په سر واړول . ماهسی ګیلاس شو نه و ته یوو ړ . کتل می چی د هغی بو تل کی نورځه نه و پاتی . بل بو تل یـی وغوښت او دا بوتل د ((شتمنو))له کریټ څخه راړول شو . بنه لوی بوتل و. دهغی سره به خواکی یی یوه((قمچینه))هم ورو لیږله . هغی هم ولیدل . اوس نو د ځنبلو او خوړلو په جریان کی یی پا م دی خوا تـه اوښتی و .دلته زموږ کړی ته.دی خلکو ته . دوی ته چی په کتلو کتلو کی به سړی فکر کاوه اوس یـی خوری . هغی به هم هغسی ور تـه کتل . او ماته داسی بنکاره شوه چی دا په خپله هم خوشاله وه چی وی خوری . بنه یی وخـوری اوداسی یی و خوری چی هیڅ نښـه تری پاتی نه شی . ځکه ډیر پـه شوق یی ورته کتل . هغـو ته . ((شتمنو))ته .او هغی سره یو ځای به یی خورا ك هم کاوه. دشرابـو

گیلا سونه به‌یی هم په‌سرواړول.د ډوډی په‌پای کی وه چی چا ته‌یی په‌ډیر بازاری نازاویوډول ماشومانه‌ادا سره وویل :

ـیوسگر مټ وا خله او دا(تلی‌یی ورته ورکړ)پکی ډك کړه زریی راو ړ ه .

او په خپله په‌یوی ډډی په هم‌هغه‌سړی چی توری جا می یی‌ا غوستی وی تکیه شوه .

ډوډی خلاصه شوه . لو بنی‌ټول‌شو. لاسونه پر یو لل شول دکوتی دننی څنډوته لږ شاته کینا ستو.درنگ ساعت له د تارو نو ترنگا شروع شوه. هارمونیی ته گو تـی‌وروړل شوی او د ډول تارونه کش شول . د ټولو پا م لاپخوا له‌ډوډی‌څخه دسازیانوځای ته اوښتی و. او اوس خونو ډیرډیر ورو واوښت.ما هم کتل . ډیر په‌دقت‌او څیـر می کتل . خو سازیانو ته نه ...ماهغی او کله کو تی ته‌کتل. خپلـــو انډیوالا نو ته می کتل. نورو خلکوته می کتل . یو ډول کتنی می‌کتی. ځکه هغه کتنی را ته داسی بنکاره‌شوی لکه نیزی چی او ږ دی شوی وی . دانیزی د هغی تربدنه‌رسیدی‌او هلته ورکیدی . اوس دا ســـی معلو میده چی هغه‌ټولی‌کتنی خوری‌او په خو ړلو هیڅ نه مړ یږی .هی لگیاوه بی له دی چی و خوځـیږی‌خلکو خپل نظرونه ورلیږل او دی‌به ټول نظرونه خوړل هیڅ نه ستړی‌کیده . ټوله خوله گر ځیدلـی وه. ټول بدن یی خورا ك کاوه . خو له‌خو له وه مامی زر سترگی تـــری کږی کړی خپل گاونډ کی می یـوچا ته وکتل . د هغه‌یوه ستر گـه نه‌وه خو بیا یی هم هغی ته کتـــل‌ان ددی کم بخت‌نظریی هم‌ترستونی تیراوه . هغه ډیر تت نظر . هغـه‌نظر چی‌نیم نه ډیر بل چاتـــــری اخستی و .لږ ورته پاتی شوی و .هغه لږ نظر هم اوس دی خوړ اوبه خپل و جود یی خو ړ.جالبه داوه‌چی‌هغه اوس په خپله کاملا آرامه په‌ځان بوخته وه. بی‌لدی چی دکوم شـی‌چرت ورسره وی هسی مصرو فـه وه . یو ډول د ځوانی بی پروایی‌یی لرله. شپا ړس ـ او لس کلنه وه . باید هم‌داسی‌وای .مخکی‌یـی‌خلکو ته کتل. په ډیر دقت یی‌کتل. په وارو وارو یی‌کتل اوس داسی‌نه‌وه. هیڅ څوك یی‌له نظره‌نه‌راتلل. یوازی یی ځان ته کتل . خپلو پښوته‌یی کتل . یوه‌پیړه د زنگونو ډکه

څر منه یې‌ورپوری ترله. داسی په‌خپل کار کی ډوبه وه‌چی تابه ویل نور نو په دنیا کی‌هیڅ کوم بل کاربی لدی نشته ... دی کی یوسړی مرسته ورسره وکړه داسړی هم‌هغه‌دتورو جامو څښتن و. هغه مرسته ورسره وکړه اوپه څو شیبوکی یې‌زنگونه ور وټړل اوخپله‌یی ښاته ډډه وهله .

هغه اوس لونگی په‌سر نه‌لرله.یو اوږد واسکټ یی هم‌اغوستی‌و . هغه‌یی وښکه . اوس یی‌نو کمیس‌هم‌وغورځاوه اونیم بربنډ شو.سازیانو ته‌یی‌وکتل .یوه موسکا یی وکړه .هغو هم ورته و موسل . سازد د سوریدو په حال کی و ... لاترنگ‌او تر ونگ پورته کیده‌چی‌هغی خپل جمپر له تنه‌وویست. نړی‌اندام یی تری ښکاره شو. ملایی‌ښه نری وه او د ملاځخه ښکته اوپورته‌یو څه په متناسب او غا ړه و تی ډول پلنه وه.یوڅوکسو خود جمپردښکلو سره یوڅه نا مفهوم شیان‌له خولی وویستل زه پری ونه‌پوهیدم‌خو هغی یوه موسکا وکړه. دی کی هغه په خوا پوری یی ناست سړ ی‌په ملایو سپك ټپ ورکړ. دی مخ‌ور واړاوه .اودواره‌یی پر لورکړه‌شوه نه پوهیږم ولی ما داسی حرکت‌ښه ونه ګاڼه .یوه څړیکه می په ماغزوکی تیره شوه. اوس مې هم‌د هغی څړیکی زور ورتو ب اودروندوالی په‌یا د دی .په ټول ځان‌وهڅیدم ددننه له‌خواو هڅیدم‌چی عکس‌العمل‌وښییم او ښه دروند عکس العمل وښییم زړه می هم وکړ . خونا څاپه‌می په ذهن‌کی‌کوم چاګوتی‌وخوځولی زما پا م یی د کو ټی ناستو خلکوته‌واړاوه غلی شوم . زر مې‌وچولی پورته کش‌کړ.سترګی‌می رانښکلی‌اوپه غټ‌نظر می خپل شاو خوا ته وکتل .لږسوړ شوم او ځان‌می اداره‌کړ. خوتبه می هم‌هسی وه‌او و جود می وار په وارتو دیده.اوس‌نوښه‌سم‌وپوهیدم چی ناسازیم اوکه ویلای‌می وای‌نو اجازه به‌یی‌هم‌راکړی‌وه چې‌تللی وای.خونه پوهیږم ولی‌می‌خپله ددی اندیښنی سره د ننه پې ځان‌کی مخالفت‌وکړ او هم‌هلته‌می زندی کړه .

شپه دنهو (بجو) شاوخوا ته‌رسیدلی وه . ساز سورشوی‌وټول کور به ته‌سترګی په لارو.دی کی‌یوه(شتمن)وویل:

ـ ترڅو به منتظرو. نه‌یی‌پیل‌کوی؟وخت خویی دی .

... او ددی سره یو ځای لکه ست‌چی یی غوښت سازیانو گوتـــــی وخوځولی .ساز شروع‌شو.یـوه‌لاره‌شروع شوه. دسلامی په‌نامه یادیده. یو ډول ترنگهار او جږ غږ پیل شو.تولوتارونو چغی ویستی . داسی‌چغی بی ویستی چی تابه ویل‌ستونی یی‌ناسته دی‌اوغږونه رسانه‌و ځی.ډول هم‌یو نواخته‌ډبهارپیل‌شو. خو غـــږیی لکه‌لټ غویی ډیرپخ‌و ... خوهـی یوپه‌بل‌پسی ډبهار تری خو ت .دی‌لټو ډبهارو به د تنبورونو ناســـت غږونه‌په ځان‌کی‌پیچل.اویوه لټه لاره‌یی جوړوله‌سره له‌دی‌چی ضربی‌تیزی وی‌خوغږونه لټان‌و .دهمدی‌غږ ونو دځو شیبوپه اوږدوالی‌کی (((هغه))) له ځایه پورته شوه .یوډول توپ سره‌یی‌دپښو په‌و هلو پیل وکړ. بیایی توپ وواهه بیایی توپ ووا هه. او سازپه‌ځان کی ونغاړ له . اوپه‌هم هغه‌ساز کی پسی‌ډوبه شوه . دساز سره گډه‌شوه بیخی په خپـله ساز شـــوه . پښو یی په‌یومعین ریتم کی شرنگی‌کاوه .او دا به‌ورسره په ټوپونووه. سازونه‌دپښو اووسیلو سازونه سره‌گډ شول . دایی‌وپیچله. یوځل‌خومی فکروکړ هغه‌نه‌ویئم. له‌سترگومی پناه‌شوه.... په ساز کی‌ورکه شـــوه .. سازوخوړله او اوس دادی ساز تـه‌گډیدله. اوښه، ښه‌گډیدله. خودځو شیبو مخکی سازالټو اوداخونوډپره‌تیزه‌وه. ساز بیا راپیداشو. دا بیارا پیداشوه .سره‌جـلا شول. هر چـاخپل ځان جلا کړ او دادی یوی‌شیبی له‌پاره ودریده.لایی دپښودساز غـږزموږ په غوږونو کی‌و.بیخی درونـد ساز . خو دا په خپله لاولاړه‌وه .

لاندی په‌ناستو کسانوکی وینـــه‌وچلیده .ټول په خپلو ځایو کـــی وخو ځیدل . د کوتی ټولی څنـــډی‌وخوځیدی لکه دکوم ژوندی شـــی ژامه چی‌دکوم شی د ژووالو له پاره‌په‌خوځاشی .زه وویریدم . له ځانه،له گاونډی څخه می وویریدم .لدی وینوځخه چی په مخونو کی‌و چلیـــدی وویریدم .په همدی‌کی دابیاوخوځیده‌او دا ځل وړاندی‌وخوځیده گام‌په گام هغه وړاندی راغله . هغی خواته‌چی‌مو ږ ناست وو. ورو ورو هغه راغله او زموږدکړی د شتمنو مخ‌ته‌په‌تاویدوشوه .هغه‌تاویده او راتاو یده. لمنه یی‌هم‌تاویده. په لمنی کی‌یی زیـــړی‌او توری پټی هم تاویدی . داســـی ښکاریده لکه په‌یوی جگړی‌کی چـــی‌اخته‌وی او د هری شیبی سره خپل

میدان یی‌پراخاوه. نه یی‌غوښتل‌څوك‌ورنژدی شی. دسنگر ډوله قلاکاریی سرته رساوه . ښکاریده چی اوس‌دلمنی‌دقلاځخه دپاندی‌یوازی‌نظرونواو کتنو داهځه کوله چی هغی تـــه‌ورسیږی او گو تی ورو ږ ی . نورو درسیدو هځه نه‌کو له اود هـــم‌هغی لری څخه یی دقلاد ننه دناوی نندارہ کوله .یو عمو می‌دخو ځیدوزوږ و چکی‌و ی لاسو نه‌پر کیدل. ساز ، زنگو نو چکو او لمنی د یووډل نشه او تیز بوی سره په‌کوتی لاس بری لاره . نور هر څه پکی‌ورك شوی وو .ټول له‌ځا نه وتلی ووخوك‌په چکو او خو ځیدو کی‌داپه‌ساز لمنی او زنگو نو کی او زه‌ددی ټولو په‌کشمکش کی ډوب وم .

یوازی سازیان پاتی‌وو هغو ســا زوا هه.ټول ور ته تابع وو انسا ز زنگو نه لمنه موږ ټول او دا ...داټول ورته تابع وو.

دغو کسا نو ټول په خپلو گوتوکی‌ساتلی‌و .څوك تری‌وتلای نـــه شول. عجیبه شان جادو گران و.په‌څو شیبو کی داسی ښکار یده چی ان دکوتی هوا هم ور ته تابع‌وه. په خپلو منځو کی به یی نری موسکاوی کولی . دغږور موسکاوی. داموسکاچی موږ ټول دد وی پـه گوتوپوری تړل شوی وو .د هغودگوتو په خو ځا پوری تړل شو ی و. مو ږ نور خپلو غروړونو ته‌پام نه‌لاره. مو ږعملا او س غرور نه لاره. دوی دغرور څخه‌ښتنان‌وو یوازی‌غرور نه‌بلکی د((واك))څښتنان وو. زمو ږدواك .د هغوی سازو نه‌اوس‌له‌تنبلی څخه‌و تلی‌و .یو ډول‌ځانته ضرب یی‌پیدا کړی‌و. مو ږ ټو ل‌همدی سازو نو ((څر خو لو)) .د هغو په‌گو تو څر خیدو .ټو له‌کوټه‌دهغو په‌گو تو څرخیده . ان ټو له نړی څرخیدله .ښه تیزه‌څرخیدله. بی له ((شرمه)).څوك په‌نا ستـی او څوك هم په‌ولاړی څرخیدل .د ډیرو زړو نه ،ذهنو نه او ټو له هستی څرخیده .زما زړ ه‌هم څر خول کیده .بی اختیاره څر خول کیده اود هغی سره یو ځای یی‌نړی‌هم په ما څرخو له .پدی څر خیدو کی می‌زړه په تنگ شو او همداسی‌تنگیده ... هی نه ایساریده . هر څه می وکړل نه‌کیدل. هم څرخیده‌هم تنگیده . په دلیل یی و نـــه پوهیدم. هر څه((هځه)) می‌وکړ ه‌نتیجه یی ورنه کړه .نژ دی و چی چغه وکړم. خودی کی می‌ستر گی‌دهغی په‌کمیس پور ی‌و نښتی بیا

می دکمیس دلاندی بل خړ نګه‌کمیس‌و لید او په‌خر خیدو کی دا کمیس هم څرخیده . نا څا پـــه‌می‌پام شو چ ی‌دی رنګو نو یـــــوه عجیبه غاړه‌وتی تصو یرجو ړکړی‌و. وار په وار داتصو یر غټید ه غټیده او غټیده . دابیاپکی ور کـه‌شوه. داځـل په همدی رنګو نوکی ورکه‌شوه . له ماورکه‌شوه . زړه‌می‌پری و خوږید.کله له یـــوی خـوا خوړل‌کیده او کله له بلی خوا .څه‌شیبه می انتظار وو یست خو هغه می بیا نه مـونده . فقط کمیسونـه تاویدل په‌کمیسو نو کی په ټو لو کی د تا و یدو هڅه وه. ډیره‌تنده‌او درنه هڅه، نه خلاصیده . دی کی می هم زړه په‌تنګ شو .خفه‌شوم‌داورکه وه . زړه سوی می‌ډیریده. وار په‌وارډیریده .ویره می له‌ذهنه‌وتلی وه .خو خر خشه می لا په‌زړه کی‌وه او نه‌یواز ی نه‌وه وتلی‌بلکی‌هغه هم درنیده.ښه درنیده . خر خشی او زړه سوی ((وپیچلم))ښه‌ټینګ ٔیی‌و پیچلم .زړه سو ی په هغی او خر خشه دپیښی اود هغی‌ترمنځ داړیکی خـر خشه ، بـــیا ویره راپیدا شوه. اودا ځل و یره‌له خر خښی څخه‌وه:

((نه‌شی چی همدا خر خشه د پیښی سبب‌شی)) ((نه‌بابا داسی نه‌کیږی)).

کوټه لا هما غسی دکمیسو نو سره تاو یده او په‌یو ډول دډولونو چور لیده او څرخیده .په‌یو معین‌ریتم کی په منظم‌ډول . دشورو نـو او زوږو نو سره تاو یده . ښـه‌تیزه تاویده . له‌یو ډول بی ځا نه غږو نو سره . له خندا وو ا و مو سکاوو سره. له خو ښی اوزما له‌غمه سره .له خر خشی او زړ ه‌سوی سره. داسی‌راته ښکاره‌شوه چی له دی کوټی پرته دنیا نشته.هیڅ شی بی له دی ځای څخه‌وجود نه‌لری . ټوله دنیا همدلته ده .اصلامی نیا له یاده‌وتلی‌وه. خپل،خپلوان کور، واړه او نور. هیڅو ك می‌په‌یادنه‌وه . فقط کوټه، ساز،خنداوی، شور، زوږ، غږونه ،کمیسو نه ، چور لیدنه خر خشه اوزړه سوی‌و. نوره‌نو دنیانه‌وه . او راته معلومه‌شوه‌چی له سر ه‌دنیا ((همدا))وه. همدا کو ټه او همداشیان یی .همداخواو شاته یی تیاره هوا . یو ځل خومی ځان سره وویل: ((زمونږه)) دنیاولی نه ویریږی ؟په دا دو مره

کوچنیوا لی زموږه دنیا پوازی ده.ولی‌پوازی ده؟هغه هم له‌یو دا سی ناغاړه‌و تی جوړ ښت سره .اوددی‌سره می پەذهن کی داپوښتنه هم وگرځیده چی‌زمونږ نړی به‌پای‌ولړی‌اوکه‌نه .دو مره دی حال کی ډوب شوم چی فکر می وکړ په همد ی‌نړی کی ((زیږیدلی))یم .ټولژوند می همدا رنځ‌دی .دزړه سو ی اوخرخشی رنځ گا لل دی . دا رنځ دازړه سوی او داخر خشه راسره یوځای پیدا شو یدی .

زما وجود هم له دی سره یوځای‌یی منلو ته تیار شو .په تـــول ځان دځو شیبو له‌پاره بسیاشوم.هرځه می منلی تصور کړل . هیڅ شی د مخالفت نه‌و .نه خو نه ،نه‌چورلیدنه ،نه‌واك منی ، او نه بی غروروا لی .یوبه‌نخیږی او بل‌به‌یی‌وینی .یو به یی‌خور ی او بل‌به‌یی خوړل‌کیږ ی .ښه باوری وم ؛ پدی‌ټولوشیانو . دی زموږ په دنیا .دی ناغاړه‌و تی کو چنی دنیاباندی.

کوتهی خلك هم‌دا سی ډوب شوی‌وو چی تابه‌ویل لکه ما غوندی ټول باوری دی . او بی له دی نړی نورنو نه‌بل مهال اونه هم بل‌چاپیریال پیژنی .ځکه چی سر تر پایه پـــه‌همد ی دنیا کی ډوب شوی وو.بی غمه ، بی‌زړه سوی ،بی‌خر خشـــی‌اوبی غروره .یوازی غږونه یی له خولی وتل .ښه پەزغرده غږو نه .په هغو کی هم د((معصو مـــی)) کلمه چی‌دهغی نوم ډیر او ریډ ل‌کیده .دهغی سره په خوا کی د ی زمو ږ دوړی دنیا دما شیـــــن ((پرزو)) یوډول خیزکی هم‌وهلی. بی له دی چی‌له خپلو ځا یووخوځی‌دچکو او نارو سره ترپکی یی‌وهی. منظمی خیز کی وی. دساز تابـــع‌اودساز یانو پەگو توپوری تړ ل شوی خیزکی‌و ی .اوداسی‌بریښیده‌لکه دوی ته،د ی‌پرزو ته چی‌همدا وظیفه سپار لشوی وی. هغی نه پرته داوړه پەتیارو کی ډو به ا و یوازی دنیا له ځانه پاشیده اومحوه‌کیده .نو دوی باید خوځیدلی‌وای. هره شیبه خو خیدلی وای .داخوځاوی او غږونه می لیدل چی پـه یوی عجیبی رشتی پەساز پور ی‌پەسازیانوپور ی او په پای کـــی‌د سازیانو په ارادی پوری تړ لشوی‌وو. هیڅ تری‌خو ځیدا ی‌نه شول. شاید دآزاد یدو هیله یی‌نه‌لر له.همدی بندیدو هغوته ژوند وربښلی

و. بی‌له هغی محوه کیدل او مړه کیدل او هیڅ شی مړینه نه غواړی ان‌په مرګ محکوم پاڅه‌تروریستان.

ژوند ،ژوند دی . هغو ته‌همدی‌ساز ژوند ببنبلی‌و .دی نړی ژوند ور ببنبلی و. هغو شوروانو ،زوبرونو غږونو، خپ زکو ،چور لیدو او د کوټی دی زمونږ دوړ ی دنیا هر څه‌ته. څنګه کیدای شوا ی‌دا مز ی شکیدلی‌وای ؟خدای مه کړه !خدای‌مه کړه!داخو ظلم‌و . ډیر کلک ظلم‌و. دچانه ژوند اخیستل څومره‌لوی ظلم‌و. مګ رڅپله وا کمن غوښتی‌وای . خو وا کمن لاتاز ه څپله واکمنی څپړو له .پدی دنیا باندی . دی زمونږ په‌تیارو کی‌گیری دنیا باندی او هره لحظه دا واکمنی درنیده او ژوریده.

جالبه لاداوه چی ټو لو فکرکاو ه‌دا دنیا د هغو جوړه دنیا ده اوددی فکر یی نه‌و کړی چی بی‌له هغوی‌څخه دانړی نا ممکنه وه . هر ترنګ دد وی د زړه ټکان سر ه‌گډشوی‌و .بیانو چی هغه هم‌دتر نګ سره تاویده . او هغه خو نوهماغسی‌تاو یده . په لمنو کی‌تاویده. اولمنی په‌یو محور په خپل محورتاویدی .او داخو نو پکی ورکه‌وه .خپلی لمنی‌و خوړ له او ل ه‌ټولو پکی‌گوښه‌شوه . کمیس کی‌یی دزیړو اوتورو پټو وجودپرا خه او خوله یی‌تنګه وه .دایی په خولی‌کی ننو یستی‌وه او ښه ټینګه یی نیولی وه. هره‌شیبه خو له‌تنګیده او هغه یی زبیښله .ستر گو می نور څه ونه‌لیدل . هغه رانه‌ور که‌شوه‌اوکمیس کا ملاوخوړه. هیڅ نښه یی تر ی‌پری نه‌نبوده .غوښتل می چغه وکړم. ټولو ته‌ووایم: ((هلی !مه پریږ دی هغه ده ویی خوړ ه.ورکه یی‌کړه. خلکو !هغه‌یی‌وخوړه)) خوچغی می له خولی ونه‌و تی . ډیر می زړه بی چاره شو. هیڅ اسره‌می‌ونه لیده . دنا امیدی او ښکی می‌تحر یکی شوی. غوښتل می‌لاره‌ورکړم . خو راپه یاد شول چی‌په‌ی واده کی‌یم . دشر بت‌خا ن دورور په‌واده کی‌یم. دی‌کی می‌دا هم ولیده .ښه می‌ولیده . خوا ه‌یی‌وړه وه.پاسنی شونډه یی لنډه‌وه.پزه یی هم‌دو مره لوړه نه‌وه. خو لی‌پری ماتی وی . خو عجیبه‌لا داوه‌چی خوله‌یی اوس هم‌خو ځیده.لا ند ی‌ژامه یی‌ښکته پورته‌کیده . زما مخ

ته‌راغله .نژدی راغله . او هلته په‌تاو یدو شوه .ماد جنا یت‌احسا س وکړ. دالو مړی ځل‌و .هودالومړی ځل‌و، چې‌ماد جنایت احسا ســ وکړ. خو درو ند احسا س .ژور هم‌و .په ټول ځان می احسا س‌وکړ. دټو لی‌نړی دجنایت پیټی مــــی په او ږو احساس کړل. دو ژ نو، مړ ینو، زو رونو، ټکو نو اونو روجنایاتوپیټی .ان دټو لو بــــدو کارو نو پیټی می په اوږو بــــارشول.((ټول)) می له نظره‌فاحشان، بدکارا ن او جنایت کاران را غلل .هیڅوك بی گناه نه‌و . هر څــوك چې‌په خیال کی راوگرځیدل گنــاهکار را ښکاره شول. عجیبه لاداوه چې‌ذهن نَمی په‌خوشیبو کی په لس‌گو نو ،سل گو نو او انزر گو نو کسان راپه یادکړل . ټول‌گناهکاران‌وو. چا ((وژل))چا((خوړل)) او چا ((کول)) .ما ته دخپل ځان نه هم‌کرکه‌راغله خودا ډیر شیبه پیــز حالت‌و .دیوی‌څپی په ډول بیر ته لاړ. لکه څړیکه‌وه . بیا می هغې ته وکتل.د هغې سیوری ته می هــم‌وکتل. د((معصو می)) سیوری‌ته . سیوری هم‌تاو یده .خوله هغې نه‌څو برابره غټ. او کله‌کله خوبه‌یی سیور ی‌ور باندی خور شو. دا به‌یی‌په ټول ځان‌و نیو له او خپلــی کومی کی‌به‌یی ننویسته .بیا به زرتری‌وتښتید .او په ډیری تند ی تری تښتیده دو مره په تیزی چې‌تابه ویل غلایی‌وکړه اودادی‌سترگی پناکوی. دی کی هغه د شتمنو مخ‌ته‌په‌تاو یدو شوه. دکوتی له‌بر سر نه چا اشاره ورته‌و کړه اوداد یوډیر بازار ی نا زسره د یوه‌شتمن مخی ته‌کیناستله .دناستی ســره‌جوخت یی‌یوه موسکا وکړه .پاسنی شونډه‌یی‌ور که‌شوه او لکه دوریجودقطار غاښو نه‌یی‌ښکار ه‌شول .. موسکایی ماته دبی‌و ســــو ا و((مجبورو)) ښکاره شوه . ټیــك هما غسی . یو ډول کر که می تری‌وشوه .له‌ډ وی خوا یی ادا ډیر ه بازاری وه او له‌بلی خوایی‌موسکا ډیره سپکه اوبی مالگی وه .زړه‌می تری بدشو. دیوی بلا خیا ل‌می‌پری‌وکړ.بیرته می ذهن ته هم هغه‌ویره راغله . پدی می زړه سوی لــه‌لاسه‌ور کړ .اودزړه خر خشــه می نوره نو یقینی کیده .ذهن می‌ښه‌سم کار کاوه .ځان سره مــی وویل:((دهر ی‌پیښی په مقابل کی‌باید حوصله وکړم)). خونه‌پوهیږم

اولی می زړه باوری شو چی پیښه حتمی ده .زه یی دهغی دزغم‌له‌پاره تیارولم.

غلطی یوه لارده .هغی‌نه‌پر تـــــه ډیره‌مشکله‌بریښی‌چی څوك‌دی غم غلط کړی .خو یاره څینی غمو نه خواږه هم وی. تاسو دی ته پا م کړی دی ؟حتما موږام کړی د ی‌چی‌څینی غمونه دغم‌گری سره ،سره بیا هم خواږه وی اوان په‌غم غلطی‌یی هم دو مره دسړی زړه نه‌کیږی زما غم هم ډیر خوږوا لی لاره.هغه‌دسباور څی غمو. دسبا د بیالیدو غم. داوس دلری کیدو غم . خو اوس می لاپه څان‌کی د هغه نښـــی لرلی. څان سره می داسی‌و گنله‌چ ی‌سبابه یی ډیری نښی‌وساتم. په دی نوباوری‌وم.یو نیم څل به‌می‌زړه کی دمنفی خواته وکوچید م. ((نه‌شی چی رانه شی ؟)) بیابه‌می‌څان ته‌نسل ورکړ :((څه خدای‌خو مهربانه دی. یو کارخوبه‌و شی)).همدی هیلی ور څ رابانده‌تیره‌کړه. خو هومره ترخه ورځ هم نه‌و ملکه‌چی‌می دهغه دبیلتو ن په‌لو مر ی شیبه‌کی وانگیر له .دنورو ور څونه‌بیا هم ښه ورځ وه. پو هیږ ی چی دسبا په هیلی می‌ور څښه‌وه؟خو شیبی دو مره اوږ دی وی چی دماښام وخوا ته یی‌ستړی ک ږم .بیخی ستړی. داسی ستړی چـــی نور می دشاو خوا شیانود کتلـــوزغم هم‌نه لاره. هر څو مره زغم می چی‌لاره هغه دسبا ورځی انتظـــارانه وخو ړ . داسه ی‌راته ښکار ه شوه چی باید سترگی وتړم . په‌ډیری سختی سره می خپل څا ن خپل‌څای ته‌ور ساوه .یو نظر کی‌می‌مور هم په‌سترگو شوه. اندهغی دلیدو زغم می‌هم نه‌لاره .همدا چی‌خپل څای ته‌ورسیدم نوبی‌اختیا ره می سترگی‌پټی کړی. ماو یل که داد نړی دلیدنی څخه چی آزار را کوی خلاصه شم .دی کی می مور په‌خواپوری ودریده .ورو یی خپلی له‌عاطفی نه‌ډکی شو نډی ز ما د غاړی سره‌و مښودی .خوزه پـــه داسی حالت‌کی نه‌وم چی د هغـی‌عاطفی ته می مثبت ځواب و یلا ی وای. فقط څا نمی لږوخو څاوه‌اوهغه هم‌داسی‌چی مور می پوه کړه چی گنی زه آماده نه‌یم . هغـــــه‌وپو هیده او ډیر زر خپ ل‌څای ته ولاړه. پوهیږی چی په ټول قوت‌می‌دهغی څار لیده .سره له دی چی ستر گی می‌پټی کړی وی . خود هغی څار می احساساو ه .یو ډول ولاړځارو .بی‌تحر که .په څـــو شیبو کی هر څه په‌ټپه‌و دریدل. رنگو نو خپل حالت له لا سه ور کړ. زما احسا سا تو خپلی څیری

لاسه ورکړی. دیوی تیاری په شان شوی. زما درك نور په تروبن می کی ودریدد. هیڅ شی تصو یر آزار نه راکاوه. خوب په خپلو زور و رو منگولوکی وانیو لم. دنورو تو لوشیانو څخه یی جلا کړم .گو ښې وم. خپل چاپیر یا ل نه وو تم .هر څه خپل اصل راته بایلود اوددرانه خوب دنیاته و لاړم .که ربښتیا در ته ووایم نودغه احسا س هم تر شیبوپور ی تصو یر لاره. پوهیدم پری چی دادی دخوب منگو لوو نغاړ لم او څان راته د هغه پـــه مقابل کی هسی لکه یوو پو کی میږی رابنکاره شو. خودا تصو یر وار په وار تتیده ،تتیده ،تتیده ... نورمی نونه دی په یاد. فقط یوو خت می ولیدل چی دخپل توا ن په خلاف د غره سر ته ختلی یم. دهغه څی څخه تولهشاو خوانړی څار م . په تو لو دغرور ناز کوم .هیڅوك هلته نـه شی راتلای. ددو مره لویوا لـــی سره، سره می و کتل چی له نورو، له تو لی نر ی څخه لری او یواز ی یم. زړه می دی یواز ی تو ب را ته په تنگ کړ. له څا نه سره مـــی وویل چی له نورو پرته یواز ی او بیل لوړوا لی څه په دردخور ی؟ هر څه دنورو سره ښه وی. بیا می د یوازیتوب احساسا ت په تـــول وجود خپاره شول .غرور می لـــه سره وکو چید .تش وم .له غروره، له نورو ،له خو ښیو، له غمو نو. نه، نه ،له غمو نو څخه نه و م تش .غم می زړه کی و. دنورو څخه دلری والی او یوازی تو ب غم .اوس بیخی یوازی وم .پوهیږی ؟مادا سی نه وه گڼلی .چی زه به گنی دا سی یوازی شم .بی له دی چی غم ډك کړی وم او زما دوجود پواز ینـــی څښتن ونور هر څه می له یـــاده ووتل. دغره دالوړه څو که چی په لومړیو دوو شیبو کی یی دیـــر خوند راکړ اوس راته زندانو . د زندان بدی په دی کی ده چی دهیڅا څیله اراده نه وی . او س دلته هم په ماد غم اراده چلیده .هر څ ه می وُکړل چی له دی لوړوا لی څخـــه خوند واخلم ونه شول. دا خو لا پریږ ده چ ی دغرور څخه خلا صـــه شوم ، اود یوازیتو ب غم وپیچلم. اوس ددی لوړی څخه دژو نـــدی ښکته کیدو سوال هم راسره پیدا شو. اوس نود غم په گردابو نوکی بیخی سر بداله شوم. دی پوښتنی همداسی انگاز ی راته کو لی چـی څنگه به ژو ندی کو زه شم. نورو ته به درسیدو سره دیوازیتو ب غم

ورك شي.خو كه اوس‌روغه‌او رمتيه‌ددى لوړى څخه ښكته شم . هغه غم‌مى له‌يادە وو ت اودى غم را ته‌ټول وجود په‌لړزه راو ست. عجيبه داوه چى او س نژدى خوك‌و هم‌نه‌چى مرسته مى ترى غوښتى واى. پام مى شو چى دى لوړى ته دراختو په‌وخت كى ماشا ته لارى ورا نى كړى‌وى .دى خبر ى‌سره‌جو خت ربنى راباندى راغى .سر تر پا يه رين ديدم .هر څه مى كول خپل‌غړى مى‌نه شواى ټينگو لا ى . د خپلى ارادى مى هيڅ درك‌نه‌و .زړه‌مى په‌تنگ شو او مايى هيڅ چاره نه‌شواى كولاى .دى‌زړه تنگيد و ډير وار خطاكړم .خو شيبو كى‌بى طاقته شوم .وو يريدم چى زړه مى‌ټق ونه چوى .دننه له‌خوا مـــى براس‌وكړ . دزړه برا س مى‌ډيريده‌ډيريده اودستو نى په‌خوارا تله . ستونى مى‌ډك شو. اودى كى مى ناڅا په بغارى وكړى. څه بغار ى وى . ډير ترى خوشاله شوم،څكه‌چى‌له هغى ويروو نكى صحنى څخه يى‌ژغورلى وم. وينبه‌شوم .كه پام‌مى شو چى‌له‌ستر گو مى‌په ښتيا او ښكى بهيدلى‌وى .شاو خوا ته‌هوارنا شوى‌وه .زه او مو رمى بيا ووتو او صحراته لاړو . نن نـو وړاندى لاړو .ډيروړاندى .له نورو بيخى‌جلا.مالرى لرى ځايو نو تـــه‌كتل. هغه م ى‌كوت .خو ډير لرى‌و. ب ى‌له خوځيدو نكو شيانو څخـــه‌مى نور څه‌ونه ليدل .ماته ډ ير ه ويروو نكى وه. ماپرو ن ټوله‌ور څ‌انتظار ښكلى‌و .او اوس مى كه‌هغه نه واى ليدلاى نه كيدل .زړه كى‌مى بيادپو مرموز خوند پسى‌تلوسه راوپښه شوه .دى تلو سى مى زړه‌په‌ټو پوكړ. يو زوږ مى په څان كى جوړ شو.د مستيو دو يښيدوزوږ.څومره چى دا زوږ لوړ يدە زما زړه به هغومره په ټو پو شو.خو ښى‌مى حس‌كړه. خوتشه خو ښى وه. ښاده شوى نه‌وم او خوښى مـــى‌حس‌كړه. ښادپدو‌ته‌مى زړه‌وهځولم. دخو راتلو نكو شيبو په دننه كى‌مى منډى كړى. سرپه خوده‌منډى. هسى بى‌هدفه‌منډى .خو ډ ير ى تيزى منډى. داسى چټك تلم لكـــه باد. كه‌كتل مى بى له دى چـــى‌وپوهيږم دهغو په‌لور مى منـــډى وهلى‌و ى .د هغه‌دمور له څنگه په‌چټكى سره تيره شوم .دى كى د هغه هم راته‌پام شوى‌و او زما په لورپى منډى‌و هلى .دى كى د غه او سنى‌سړى داچى مخى ته مى څى‌ديوه غټ‌لر گى سره راور سيد .

تر هغی چی ماخان تری بچاو ه یوخو واره یی داسی‌وو هلم چی‌رگ، رگ‌یی‌راته خبر کړ .نیت می وکړچی بیرته وګرځم او بنه جـــزا ورکړم. بیا می وویل ژوندا سی‌خبری لری .ا وبیا زماخوار کـــی ژوند .خو بیا می هم هڅه وکړه‌چی‌دهغه خنګ‌ته‌ورسیږم . نور نو د هغه دګوزارونو باران ډیر سخت‌شوی‌و. ل ه‌مانه‌یی لود ن و ر ك کړی‌و .بیر ته می مخه را غلـــی‌خواته‌و ګر ځیده. په هم هغی چټکی سره بیا په‌بیرته راغلم .لایو خـوقدمه نه‌و م تللی چی هغه هـــم راغی .نور می‌دهغه تشخیص نـــه شوای کولای یوازی دتللو په‌حال کی‌می دهغه دو چو لی سره ا و سپین ګلان وپیژندل .د هغه پـــه وچو لی کی داګلان ډیر بنه‌بنکاره‌کیدل او یاکم ترکمه ماته بنـــه بنکاره کیدل .داد هغه‌وخت خبره ده پوهیږی ؟هم‌هغه و خت چـــی احساسا ت دستر ګو لید اخلی اوخپ ل‌ځانګړی لید وربخښی .ما ته خو هغه ت رهرچا اوان کله کله ترخپلی مور هم بنه‌راته بنکاره‌کیده. خو که‌ربنتیا درته‌ووا یم نوداعلاقه‌نژدی وه چی‌دمور څخه می لر ی کړی. په همدی،ور څی چی ما اوده خواپه خوا منډی وهلی ناڅا په می داسی‌وانګیر له چی دادی لـــه‌خپلی مور څخه هم‌بلی خوا ته‌ځم. یو ډول می داخبر ه‌په‌زړه کی‌تیره‌شوه. داسی راته‌بنکاره شوه چی نور می نودمور خنګ‌ته‌نه ځم . بنا یی که دی ستړی پری ایښـــی وای ربنتیا هم نه‌وای تللای.

په خو شیبو کی دمور خنګـــ‌ته‌ور سیدو . هلته ه‌می مور دا سی وګڼله چی‌زه ګنی له هغه نه‌تښتم نو ور منډی یی کړی او ور تـــه وګوابنیده .او یابنا یی هم‌در خی‌له مخی یی داکاروکړ. هغـــــه سمد ستی مخ په‌بیر ته منډی‌کړی. زه‌دمور په خنګ کی‌ودریدم . خود هغه په‌تللو سره مور می نور دپخوا په‌شان ناز رانه کړ. لاړه او پـــه خورا ك بوخته‌شوه .ماچی نور ه‌می‌له‌ستړ یا څخه ساه سپن ه وه د ستړګو لاندی هغه څار له.په هغی‌کی د خبرو یو ټیل ماټیل جوړو.. یوارتال جوړو .دی کی ما ســـل زړونه یو کړه او ورنژدی شوم . دمور غاړه می بنکل کړه. هغـــی ځغلند ،لنډ اودزړه دپاسه را تـــه

وکتل . بیایی مخ راځخه‌وګرځاوه . داسی راته‌و بریښیده چی هغه نوره علاقه منده نده .ما هم ځا ن‌لږ‌ټول غوند ی‌کړ .داسی په نظر را غلل چی‌دمور می څه‌ر خه‌راتله .داسی‌ر خه لکه‌زه یی چی ځای نیسم .ما داسی نیت نه لاره.فقط دهغی عکس العمل دا سی‌راته وښیل .بنا یي درښتیا و یی‌ر خه‌راتله .تاسو څه فکرکو ی چی‌رخه یی ر ا ته ا و که نه ؟ زه وایم هو. ځکه‌چی ماپه نا خبره ډول تیاری نیوه چی‌د هغی ځای‌ونیسم .او س پری‌پو هیږ م .دا زما پەواك کی‌نه‌و .مور می هم‌په هم هغه و خت کی د خپلی تجربی نه پری پو هیده . هغه کله‌چی‌زما په منګ وه نو د هغی او د هغی دمور په منځ‌کی یی یوه انتخاب‌کړی‌وه . هغه هم داوه . ځکه چی ځوانه‌وه . نو او س هغه‌و یر یده‌چی‌زه په هم هغه ډول دهغی ځای وټه نیسم. داسی معلو میږی چی‌په خوا یی داخبره په‌زړه‌کی نه وه تیره شوی. داد همدی ځای‌وورو ستیو ور څو خبره‌وه. دا زما دعجیبو کړووړو څخه ور ته پیداشوی‌وه . مروره‌غوندی وه . هڅه‌می وکړه‌ورنژدی شم. د څو شیبو له‌پازه می په‌زړه کی یودردوو نکی شان احساس را ویښ شو . ډیر می‌زړه په غوسه شو. نو بیاورغلم اود مور په‌ځنګ کی‌ودریدم.ورو می‌په خپلو شو نه‌و د هغی متبنکل کړ. بیا می هم داکاروکړ. چی څوځل می داکاروکړ نو بنا یی دمور می هم زړه راباندی سوی و ی . ځکه چی مخ یی‌راواړاو ه. او ډیر ژوریی راته‌و کتل . زماد ستر ګو تل‌ته ځیر شوه. هلته یی‌څه لټول .ما می هم ستر ګی‌همدا سی‌دهغی په‌سترګو کی ښځی سا تلی وی. د هغی په‌سترګو کی می دیوډول مایوسو احساساتو غږ نه‌ی څپی ولیدی .داسی غږ ندی‌نه‌و ی‌چی ګنی مړکیدی ، بلکی‌مجبور ی ته دتسلیمیدو غږ‌ندوا لی و . لکه‌څوك چی نور په مرګ یقینی وی او له‌ژوند نه نور لاس په‌سروی. غواړ ی په خپ‌ل‌لاس له‌ژ ونده انتقا مړا خلی اود مرګ‌په غږو ندی‌کی‌یی زوړ ندکړی. دا څپی بس ددغسی احساساتوڅپی وی .د هغی‌دکتنی په‌پای کی می‌ولیدل چی په سترګو کی‌یی دتیر یدو نکی‌خوښی‌یوه څپه راغله اولاړه .ما غو ښتل چیغی کړم:

ـ موری مه پی‌پریږ ده . و یی خندوه .ورته ووایه چی لاړه نه شمی.

خود خبرو اصلی دلیل زمادمور په باوری تو ب‌کی‌و. په بر خلیك باوری وه . زما په بر خلیك اوپه‌خپل بر خلیك . هغه پو هیده چی اوس نو په‌یوی حویلی‌کی د دوا پو ترپایه گډ اوسیدل کیدو نکی کار نه دی.حتما بایدیوه پاتی شی.په‌دی‌هم‌پو هیده چی‌په انتخاب کی‌زه تری پورته‌و م. زما انتخا بید ل د دی‌په‌پرتله حتمی کار و. نو څکه کله چی خ وښی و هڅیده څو د هغـی سترگوته‌راشی ، بر خلیك خبر ـ داری‌ورکړ .څو او س چی‌ما کلـه‌ښکلول پری ښودل اومورته څیر شوی‌وم زما پستو احساسا تو زړه‌سوی راتحریك کړ. ښه کلك می زړه پری‌وسو .ژړا ته می‌زړه‌کیده. بیاکوم څه دلته په‌ماکی‌و . هغه‌راته وویل:

ـژوند دی‌کوه .په نورو پسی څه‌سر گرځوی .ژوند همداسی وی . تر هغی چی دچاپه کاریږی ښه یی‌بیاوروسته کیدای شی ستانه نور هم گټور ډیر پیداشی . هلته بیانوته دچا په دردنه خوری. ژو ند ، ژوند دی. خپله پرده دی کوه په نورو پسی څه گرځ ی.

څان می ټول کړ. مورته می‌پـه شك سره‌وکتل. دی احساسا تو هغه راته‌پردی‌و ښوده . ډیره‌پردی.مورنو څه ؟ ژوند ، خو ژوند دی. زه مجبوره یم دژوند څخه دفا ع وکړم. دخپل ژو ند پلوی‌وکړم‌نه دمور. مور خپل ژوند لری او ز ماخپل ژوند دی. دی کی له موره پراو په پراو لری کیدم . ډیر لری‌شوم .توبه، توبه ژوند هم عجیبه شی دی . بیاپه ژوند کی شخصی‌رنگ اوخوند .او هو، هو، هو .دا څونو تا سو ښه پری‌پوهیږ ی.نو له هم هغی شیبی نه‌وروسته‌مامی‌له مور څخه ډیر ، ډیر واټن پیداکړ.دادی اوس می نو څان بیخی له‌هغی څخه پردی کړله . بد ی‌یی په دی‌کی‌ده‌چی‌که‌یوازی پردی‌والی وای نو خیرود پردی توب سره په خواکی‌په خپلو منځو کی‌یو ډول پریوتی هم‌و. خو جگړه مونه‌کو له .یو له‌بله دمرورو غوندی‌و .دځوور څـو په اوږدو کی موداو ضعه کا ملـه‌شوه.نور نو دخپلوا نو په ډو ل نه

بلکی په‌یو کور کی‌داو سیدو نکوپه‌ډول، هغه هم هغه اوسیدو نکی‌چی په‌زوره پری دااوسیدل تپل شوی وی، او سیدو .کور ،دوا ډو تـــه زنداا ن شوی‌و . په‌پری یی سر ه‌تړلی و. نژدی په‌یوه کور کی .خو زړونه مویو له بله ډیر ولری‌وه .دخپلوی مز ی مو نور شکیدلی و . هرسړی اوخپل یی کارو .یوه‌ورځ‌خو ان‌سره ونښتو .همدی او سنی سړی سره جـلاکړو . سپکـــــی‌سپوری یی راته‌و کړی. ښه‌را ته وگوانښید .دواړه تری ویر یدو .

یوه‌ور ځ دوی ورو سته یی زه‌دهغه څنگ‌ته‌بوتلم .هغه چی زړه‌می پسی‌سو لیده .مازدیگرو .زیری‌لمر په‌لویدو و.کله‌چی‌ز ما و جود ډهغه دوجودسره یو ځای شو اومادد ه شته‌وا لی دخان سره ، دخان‌سره نه‌چی ان‌د ننه‌په زړه کی،په رگ،رگ‌کی احساس کړ دخوند نـــه نژدی و لیو نی شم خو شیبی خومی داسی‌و گڼله چی د نړی هیـــخ خوند ددی خوندسره سیالی نه‌شی کولای. نه خوراك ،نه چښاك اونه کوم بل‌څه .ژوند یوه شیبه ده هم‌هغه شیبه . هغه شیبه چی هیـــخ ډول غم هلته شته‌وا لی نه لری.بی‌لـه خـوښی څخه نور څه خـــپل شته‌والی له‌لاسه‌ور کوی .. ته لـه نړی می‌سترگو کی باغ اوبن شو. داسی‌شیبی لږی وی .هر ژو ی‌د داسی شیبی په هیله په پوهید لی یاناپو هیدلی ډول انتظار با سی.ماهم‌د خپل دانتظار پای لید .دا د ی زه‌یی په‌پای کی‌وم . څه‌ښه پای و.هرڅه راته مو سل. څمکه، آسمان، شاو خوا شیانو . هوا ډیره په‌زړه پوری‌وه .دی کی می احسا س کړ چی دهغی دوجود تودو خه‌لوړیږی. وار په‌وار لوړیږ ی .دی تودو خی ماته‌یو خاص خوند راو بانښه . زه ب ه‌هم‌تو دید م. داتودو خه هغه د گرمی تودوخه‌نه وی. زړه‌خوښوو نکی تودوخه‌وی .داسی چی زړه‌ور سره باغ ،باغ شی.د هغه دوجودتودوخه لوړه‌شوه .نوره نو پـــه تودوخی هم‌نه پوهیدم .په هیڅ‌شی‌نه‌پو هیدم .فقط یوه خوښی وه. دا چی‌توده وه‌که‌یخه، نه‌پری پو هیږم. فقط دخو ښی شته‌والی و. یو ه چټکه بریښنا ډوله څړ یکه می له ټول تن‌څخه‌تیره شوه .دا ســـی څړیکه چی درد یی نه‌لاره .د دردتصورهم نه‌شوای کیدای .د هیـخ شی تصور نه‌شوای کیدای . فقـط یواوج و.داسی اوج چی له هغی‌نه

پورته هر څه خپل شته‌وا لی را ته‌صفرکړ .هر څه لکه یووجو دپـــــ
ګډاشول. زمو: دوجودو نو د ننه‌دخوځا دریتم سره برابره ګـــډا
وه. اودی حرکت ټول راته صفر کړل.دی‌کی تر څو می پام شونور
ددی اوچ‌نه‌کوزیدم .دکوز یدود پیل‌ټکی داوچ دپای ټکی‌و .زړه می‌تسل
شوی‌و. زړه څه په‌کلکه ډبیده . بیخی‌یی ډباما خپله اوریده . خو
وار په‌وار داډبا ورکیده .په خـــوراتلو نکو شیبو کی می دتـــــن
تودو خه بیرته لږه‌شوه . اوناڅاپه‌می ټول وجودسوړ شو. بنساده شوی
وم .ارمان می خپل ترســـــره ولید. خودا می‌ندی په‌یاد چی‌څومره
وخت‌به شوی و اویاد هم هغه اوچ دپای‌سره جوخت‌و چی زما په‌زړه
کی‌ډ ل‌ارما نړیښی وکړی.دراتلو نکی ارما نو. دبچی ارمان. دستی
می دمورنی عا طفی احسا س‌وکړ. زړه می‌وشو چی‌کوم څوک‌ونازو م.
یوډلور احساس‌می‌وکړ.په‌کوم چا د لور احساس .

دی‌کی‌یو څه موده تیره شوه . میاشت تیره شوه .زړه می په‌نوی
آرمان پسی سو لیده. خو دا سی راته‌بنکاره شوه چی دنوی‌ار ما ن
سرته رسیدل می‌په نصیب کی نه‌و. څکه چی دانتظار شپی اوږدیدی.
هغه‌زغلولی ریښی می ورو وروخپل بدن وچولی. لاډیرو خت نه‌و تیـر
چی پدی خبری وړ وهیدم .نو بیا می‌پخوانی دخوند کارتکرار کړ.خو
نه‌د هغه پخوانی خوند په‌توګه.ورو ســته می‌بیا هم تکرارکړ. نتیجه‌ دا
شوه چی دی خلکوماته یو نوم‌راکړ.هغه دشنه‌ی‌نوم .ټولو را پور ی
خندل .زما بدقسمتی دهمد غـــه څی څخه پیل شوه. زما مور چی
او س نوراته بیخ ی‌پردی شوی وه دزړښت له‌کبله یوه ور ځ لـــه
کوره بو تلل شوه. اوزه یی بیـــا په‌ژو ند ونه‌پو هیدم .په همد ی
ورځو کی‌و چی دلو مړی خـــل له‌پاره می داد او سنی غم‌لومړ نی
ګوزارونه وخوړ ل .سره له د ی‌چی‌نوره ښه‌و م داندام له‌پلوه بده نه
وم.خودنورو د کرکی وړوم .بیاهم‌نه‌د اوس په اندازه .هی ، هی څه
وختونه‌وو.

خودا او س‌ما ته ددی ســـړی‌حر کات بل ډول بنکاری .خدای‌دی
ماته خیر راپیښ کړی .دلو مړ ی‌خل‌له‌پاره یی‌ما ته یوسور بخـــن
لو نګ ترغاړ ی راټرلی دی . خواو س یی زړه‌نه‌و ینم .په تـــو ل

ژوند کی داکار نه‌و شوی .نواوس یی‌ولی کوی ؟نه پوهیږم .څه خدای دی خیر کړی. وربه‌شم ، خبر به‌شم.چی هر څه وی او س لنډ معلو میږی.خو یاره دی کوځی نوره په‌تنګه‌کړم.زړه‌می وخوږ ل شو .ته گوره چی او س هیڅو.ك راځی هم نه.زه به له‌چانه پوښتنه وکړ م؟ دکوځی دخلاصون پوښتنه . د ی سړی خو خپل غوږو نه کاڼه اچولی .داسی ښیی چی گنی نه‌اور ی .خو ،ښه‌یی اور ی .او خدایږو چی‌له هرو خت نه یی ښه‌اوری .ماته څو ږښتیا همدی‌خبری سوال پیدا کړیدی .تردا څه‌ساعت‌دمخه یی‌هم‌او ږیدل .ان‌په‌گونګوسی باندی‌پو هیده.نو اوس یی بیاځان‌داسی بی خبره اچو لی . خیر ، له خدایه‌به خیر غواړم. داد ی یو بل‌سړی راغی .له ده‌نه غوښتنه کوم چی‌زما خبره واوری او ماپوه‌کړ ی‌چی‌داڅه چل دی .له څیری نه خو ښه‌سړی معلومیږ ی .نوور غږ به‌کړم:

ـای ما ما !داڅه چل دی ؟اوه‌ته‌پوهیږی؟ ښه نو داسی چی‌وی د ا راته‌ووایه چی دا گوڅه چیـــری‌وځی ؟په‌دی ... نودا او ښکی د ی ولی‌په‌ستر گو را غلی ؟... څه‌شی؟په مادی زړه خوږیږی ؟ز وگوره‌دا زما مخکی روان سړی څخه خویوه‌پوښتنه‌و کړه. نه‌یی شی‌کولای... نو گوره دازما حال خو چاتـــــه‌ووایه؟ ښه، وبه‌یی‌وایی ؟ نوکیسه درته‌و کړم ؟... څه تا زما کیســه‌واو ریده ؟شاته می روان و ی؟... نودا پاتی‌به څنګه شی ؟... څـــه‌راسره یو ځای ځی ؟نه؟ نو بیابه څنګه‌شی ؟هسی‌به می له لـــری‌وخاری؟ وای دخدای مخ‌وکړه !لکه چی‌بدسر نو شت می انتظار باسی.ده هم دادی ځان راځینی ګو ښه کړ. داسی ښکاری چی له بدی‌پیښی‌سره مخه‌یم. هیڅوك می لکه چی‌د پوښتنی نشته. خدایه !ته‌به پـه خپله ښه پو هیږی. خو او س لږ ترلږه داګوڅه خلاصه کړی . آخرتر کومه ؟داڅومره رنځ؟ دژوند په نا مه دو مره رنځ ګالل!دا ارز ی؟خوښی‌-خو یی دشیبو په‌اوږدوالی وی. رنځونه یی‌بیاګلونه .درنځ هره‌شیبه‌یی کال،کال دی .څه که خدای کول نو لږوږاندی خو رنـــــا ښکاری . حتما هلته لویه، ارته‌او پرا خه څمکه پرته ده. هلته به‌لږه‌دمه وکړم.

کربنبی

۲ـ٤ ـ ۱۳٦۷

څه‌که خوراك چښا ك برا بر نـــه‌شول نو راحت خوبه یو څـــه وکړم. اوه چی څومره استرا حت‌ته می زړه کیږی.

دادی لکه چی‌کو څه پای تـــه‌ورسیده . ربښتیا لوی میدان دی . ته‌ودریږه چی وړاندی به‌تری څـه‌شی‌و ی. دادی ورو ورو په کـــی وړاندی څو .او هو ،دا عجیبه‌سړی‌سره مخ شو. ایله‌په ایله چی‌دا زه کم بخته یی ودر ولم . او هو دا څه‌شی وینم ؟ ددی سړی یوی‌خواته چاړه !نه ،نه ستر گی می لکه چی‌سم‌لید، نه کوی. اوه خدایه !داخو دمیدان یوی خندوی کی څمکه هم سره ده .لکه چی زه یی ... نه،نه، داسی‌نده .خدای دی‌نه کړ ی.هغه دی هغه دواړه خو سره غږیږ ی . څه ؟زما په هکله لکه چی‌غږیږی. په‌ما کی خو څه خاص څه نشته‌چی دوی‌دی پری‌وغږیږی . خبری یـی‌لنډی وی. لکه چی کومه بله ور څ هم‌غږیدلی دی. هو،کیدا ی شـی غږیدلی‌و ی. زمایی ددوی په‌غږیدو څه. ماته‌دی خورا ك چښاك راکړی‌چی‌وږی تږی‌یم. ستړی هم یم .څه اورم ؟شنده؟... وی دا خو لکه چی‌زما په هکله غږیږی . خدا یه خیر کړی. دابل‌سړی خو هم ډیـــر خطرناکه سړی‌دی. ستر گی یی‌د خراب سړی‌دی .که ده ته‌په لا س‌ورغلم‌نو چاړه به‌می‌و شی . څه دا کارنه‌کیږ ی .ولی خپل زړه‌خورم. که خدای کول نو لږه شیبه پس‌به یوځه خوراك راکړی. ده ه‌به هـــم‌وکړم. دادی دابل سړی خو کو م څه‌شمیری .دا زما واکمن خو ډ یر خوښ راته بریښی .څه‌ښه دی‌چی دی خوشاله وی. او هو !دادی‌هغه‌سړی خو زما په لور راځی. دادی، دی خو می هم‌کشوی .چیری مـی بیایی ؟یاره داخو ډیر سر زور ی سړی دی !دی لاسو کی یی‌خومره‌زور دی .دا ماچیلی‌کشو ی ؟اوهو داخو می هم هغه دوینوو خوا ته کشوی .ما ! مه کوی !دخدای پـه روی . ما، مه کوی‌دخدا ی مخ‌وکړی تاسو ته‌وایم‌دا تاته ،چی کشو ی می !زه آخر غواړم ... زه‌ارمانونه...ته .... اوه ... ستو نی ... تنگیږی .... دا ... ولی ؟...خپك... اوه ... اوه ... .

خرپ... خرپ... خرپ ...

پای

هغه سهار دو څته ویښه شوی‌وه .په ډیری عجلی سره له ځا په پورته‌شوه او په‌یوی لاسی کڅوړ ی‌کی‌یی ضروری شیا نڅای په ځای کړه. خو یونا معلوم څیز یی زړ ه‌مروړه ناڅا په محیط ورته مبهم شو. تر بیګاه ،مابنام ، تر هغـــه‌وخته چی دا بیدیده نو و ضعـــه داسی نه‌وه . او اوس یی څان لږداسی پردی پردی کیده . خوداچی له‌څه‌شی نه‌نه‌پری پوهیده.فقط دیوه‌ګران څیز څخه دلری وا لی‌احساس یی کاوه .کوم‌ګران خو لامبهم څیز.دو مره مبهم چی دی حالت‌ور ته رنځ پیداکړ. خو بیایی هم‌زړه ته دخیر ستنی ودرو لی او ولاړه چی لمونځ‌وکړی.

هغه لاد لمانځه په منځ کی وه‌چی‌کشری زوی یی له خو به راویښ شو او په‌نیمه ژبه او خوبو لی‌حالت‌یی تری پوښتنه وکړه:

ـادی خو که‌څه؟

او بیایی دسترګو مښلو ته‌دوام‌ورکړ. په‌څو شیبو کی وپو هیدچی موریی څواب نه‌ور ته وایی نو له‌څایه‌پاځید اود مور خوا ته راغی.

خوچی ویی لیدل مور یی پەلمانخەدە هیڅ‌یی‌ونەو یل او بیر تە لاړ پە خپل ځای کی پریو ت. نور خوب نەور تە.ددە تل‌دا عادتو .سرەلە دی‌چی ډیروړو کی وخو چی هرکار بەیی پە مخکی‌و نوډیرە سودا بەیی ورتەکو لە .خوددە مشر ورور چی‌لە دە ځخە یونیم کال مشر وداسی نەو. هغە یو ځە بی‌پروا غو ند ی‌و. بنیە ژور او آرام‌خو پ یی لارە. ددنیا پەکار او بارپسی دو مرە نە گرځیدە .فقط خپلە ساعت تیر ی یی‌لە هر ځە نەور تە گرانەوە . خونن چی کلە یی کشر ورورخپل کټ تەبیر تە راستون شو ، نودی‌یی هم‌وینښ کړ. ډیر پەسختی سرە وینښ شو .خو چی ویی کتل‌موریی ناستە دە اودعاکوی نوناڅا پەجدی اوځیر شو.لەځایە پاځید او د مو رځنگ تەلاړ پە اوږی یی ور تەلاس کیښود، اوپە نسبتا جدی ژبە یی‌ورتە وویل:

ـادی‌ځو؟

مور یی چی نورە لە دعا نـــــەخلاصە شوی وە پە ډیر ی زړ ە سواندی لهجی‌سرە چی دوارخطایی‌نښی‌پکی‌بنکاریدی ځواب ورکړ:

ـهو زوی گە خدای کول نو ...

پدی‌و خت کی خدازدە چی پەزړە کی‌یی ځە و روگرځیدل خپلە خبر ەیی وخوړ ە او لە ځا یەاوچتە شوە.پە ځورې ی کی یی گو تـی وو هلی او یو نیم نور شیا ن یی‌هم ور وا چول .پە ځوراتلو نکـو شیبو کی‌یی د خپلو وړو مخو نە ومینځل او چایو تە کیناستل.زامنو یی‌سبا ناری وکړ، خ ودی بە چی کلە دچایو پیا لی تەو کتل کو می ویری بە دننە لە خوا ارادە تر ی‌وا خیستە .سترگو بە یی لار ی وویستی .تر هغی بە چی وړوورنەغوښتنەو نەکړە دا ب ەهم هسی‌ډوبە وە .یو ځل خودا سی هم‌و شو ل‌چی‌ور کوتی زوی یی دچایوغوښتنە وکړە، خو دا هسی ناستە وە . تر هغی‌چی دوارۍوزا منو یی‌ســـــر ە وخندل اوددی پام شو .دچایو پـەپای کی‌یی ځورې وا خیستە او د دوارۍوزا منو سرە لەکوتی وو تە .خپلی مور تەیی دتللو وو یل اولە

انگړ څخه دباندې‌و لاړه. هوا لا دو مره روښانه شوی نه‌وه .دا په جلتی جلتی روانه‌وه . کور یـــی‌دعمو می سړک څخه لږ لرې‌و .ترهغې چې عمو می‌سړک ته‌وو ته‌نودموټرو او کرا چیو تګ را تګ پیل‌شو. همدا چې سړک ته یـی‌وکتل نونظر یې په‌یوی لو یې‌اوږدی سړی لیکی ونښت .کر ښه یې زړ په‌تیزی سره تعقیب کړه. که کتل یې‌یو څو لنډی شیبی دمخه یې له‌مخی کرا چې تیره شـــوی‌وه . د کرا چې په مخکینی برخی کی یې‌دیوه لاس په‌واسطه دیوی قمچینی حرکت‌و لید . اوددی سړی‌کر ښی‌سر په‌کرا چې پوری رسیده . زړه کی یې‌ویره ننو ته . بد شګو م‌یې‌مخی ته‌ودرید .زړه یی ودرزید . هیڅکله یی داسی څه نه‌وو لیدلی.غوښتل یی بیرته‌و ګر ځی. خود مخی کاریی هم‌ور ته ضرور ښکاره‌شو. بیا له هغی پرته یې‌دزا منو شوق هم ورته‌پیر تودپه نظـــــرورغی. خپله و یزه یی په‌زړه کی وکوتله . او داسی قاطع یې‌و کوتله‌چې دیوی شیبی په خوو می‌برخی کی یی هیڅ فکر نه‌کاوه چې ګنې‌زړه کې‌یی ویره هم چیری وه او که‌نه . ډیره زړوره ځا نته ښکاره‌شوه. دمو ټرو درانګ لوری ته‌یی نظرواو ښت .مخا مخ د ډوډ ی پخولو له هغې څخه دتودی ډوډ ی ډیر په‌زړه پوری خوند‌ور بو ی پورته کیده. او ډوډی پخوو نکی ورو ستی ډوډ ی‌په‌تناره کـــــی‌وو هله.

څو شیبی لا نه‌وی تیری‌شو ی‌چې‌لمر ددوی دکوردنږدی غړه له شا څخه څړ یکه وو هله . د د ی له‌بدو تالو چ ی‌دلمر دځړ یکـــی لومړنی لویدنه هم په هما غې‌سړی‌لیکی باندی وه. مخ یې تـــــری وا ړاوه ، خو دستی یی مخ بیر ته‌وروګرځاوه او په پراخو خلا صـــو ستر ګو یې‌ور ته وکتل. لیکی یـــوډول شنه روښانه ستر ګـــــی برېښوو نکی‌بریښنا و کړه .بیا یې‌شاته لمر تهو کتل .بیرته یی هغه دوړانګی څپه چ ی‌دغړه له‌یوه‌کنډوه‌پد ی‌کړ ښی پریوتی وه تعقیـــب کړه. دوه دری ځلی یی داکاروکړ.زړه یی په‌ټوپو شو، له رڼا یـــــی

زړه تور شو. غوښتل یې چې دا رنا هیڅ نه‌وی . که دارنا نه‌و ه هغی داکر ښه او بیا او سړ هغی‌بریښنا نه‌لیده .زړ ه‌کی یی تیـــر شول چې دالمر دی خدای په خیرکړی چې داڅه بده پریو تنه‌لړی . بیایی دکر ښی لاندی ځمکی ته‌پام‌شو. هغه توره‌وه. ډمبر سرك و. پوښو . هغی هم نور بیر ته‌اړو لی‌و. کتل‌یی چ ی‌داسره کر ښنـــه څنگه دتوری پردی دپاسه‌غوړیدلی‌ده. دی دوو رنگو نو یو عجیبه بد شکله ترکیب جوړ کړی‌و .هیڅکله یی‌داسی یوړی‌پیښی ته‌آماده کی نه وه خواو س باید دی ته تیاره وه.خو چې ښه ځیر شوه نو هغه د لاندی تور رنگ تری نه‌ورك شو. نور یواز ی یی همدا لویه کر ښه له‌نظره شوه. دی په‌کی له‌ښکتـــه‌تر پورته سترگی‌و گرځو لـــی. انگیرنه یی نوره هم درنه شوه . زړه کی‌یی ځان سره وویل:

ـخدایه خیر کړی. دانن په ما څه شویدی ؟نه،نه خدای خـــو مهربانه‌دی څه نشته. که بیـــا...

نور یی خپل سو چ‌ته دوام ور نه‌کړ.هڅه یی وکړه بلی خواته‌متوجه شی خو ددی له‌بدو تالو چې د شل‌دیرش قد مو په‌واټن کی یـــــوه هتیوا ل په‌زوره زوره په بدوزدو پیل‌وکړ:

ـبل ځای نشته چې دا کرا چې‌دی په‌کی ودروی ؟

دی خبری هغه بیاکرا چې ته اوکرښی ته متو جه کړه. دستی یی دخپلو زا منو لاسو نه کش کړه‌او یودوه‌قدمه شاته دکور په لـــو ر وخوځیده .خو بیا په ټپه ودریده.زړه‌یی‌و شو چې چیغی وکړی. ښی چیغی .په‌لوړ آواز سره چیغی . ټول خلك خبر کړی. دی‌کر ښی‌ته هم څه سپکی سپوری ووا یی .کوم‌مرموز ځیز ،کومی مر موزی‌ویری وو یرو له .کوم کرا نمخ یی‌مخی‌ته‌و درید .دکولو اونه کو لـــو څه په کی‌نه‌و. هم هلته یی‌دمسجد‌په‌دیوال تکیه‌و کړه اوکینا سته . زا منو یی په‌واړ خطا یی سره‌مورته‌وکتل .کشری زوی یی په ناز زنه پورته کش کړه او ویی‌ویل:

ـادی‌ولی څه دربانده وشول ؟

اود هغه دخبر ی‌داو ریدو سره‌سم یی ځان په خپل اختیار کړ اویوه سپکه بی مالگی خود زورمو سکا یی‌و کړه.دی‌مو سکا یی زا منو ته هم‌خوندور نه‌کړ. دی دستـــــــی‌مو ضو ع واړو له او له مشرزوی څخه یی پوښتنه وکړه:

ـ زویه هغه خپل مو ټر دی له‌وړکتون څخه راوړ؟

زوی یی هم په بی‌خو ندی سره‌ځواب ورکړ. خو دی خبری بیا هم هغه را جوړه شوی فضا ما ته نه‌کړه.بیا چی‌ویی لیدل کشر زو ی یی هماغسی ور ته‌گور ی اریا نـه شوه .ځان یی‌ورك کړ .نور یی نو داو ښکو هغه راغلی څپی ته چی تربنو پوری رارسید لی وی اجازه ورکړه څوتویی شی .زا منو ته یی‌داسی ښکاره شوه چی گنی‌غرونه لیلیږی . کشر زوی یی نژ دی‌وچی‌په‌زوره وژاړ ی .خو مشـ رزوی یی په خپل لاس د هغی ستر گی‌وچی‌کړی اود معمو ل خلاف یی دسرك په‌سر دمور بارخو ته‌شو نـــه ی‌وروړی. مور یی داو ښکو په‌دننه کی یوه توده څپه احسا س کړ ه. دی څپی موسکاته اجازه ور کړ ه چی دهغی په‌شو نډو خوره شی .دی سره جو خته له ځایه پا ځیده اودسرك په‌تم ځای کی مو ټر تـه ورغله .په‌لومړ نی مو ټر کی له‌هغه ځایه‌و خوځیده .مو ټر لا ډیـــــروړاندی نه‌و تللی چی دوو کسا نو خپل منځ‌کی شخړه سره وکړ ه.دی دکړ کی څخه دباندی کتل .

هیـڅ د ی تـــه یـــی پـا م نـــه و او یـــا هـم نه‌یی‌غوښتل چی ور پام یی‌شی .کشری زو ی یی ورو مخ‌ځان ته‌واړاوه او و یی ویل:

ـادی څه چل و شو ،تـــــه وگوره؟

هغی چی مخ واړاوه نو د یو ه‌سړی مخ‌ته‌یی پام شو چی دسرنه یی پری یوه کرښه رابنکل شو ی‌وه. زریی تری هغه بل سړی تـه وکتل ،هغه هم داسی‌و .خو هغـه‌نور دلویدو په‌حال کی‌وو .دی یوه

وړه کړیکه ((وی خدایه))له خولی‌وو یسته اود دوا ړو څخه یی مخ واړاوه .غوښتل یی یو ښه کلکه‌څپیړه خپل کشر زوی ته ورحواله کړی. خو بیرته یی خپل لا ســـ‌ونیو. دخپلو زا منو سترګو تـــه متوجه شوه. هغوی ددی د کړیکی‌سره ژړغو نی شوی و .د دوا ړو په‌سترګو کی او ښکی ډنډ شو ی‌وی .زړه‌یی‌و سو .خو ناڅا په یی ولیدل چی په او ښکو کی هـــم‌هماغه کرښه ی‌ښکاری . زړ یـــی‌د زا منو له‌سترګو ،ستر گی‌واړولی.زړه کی‌یی‌بیا ځینو خبرو حملـــه راوړه. ډول ډول خبرو .مخ یی دموټر په‌کړکی پوری تکیه کړ . یو څو شیبی ورو سته یی د شما ل‌په‌نتیجی‌کی‌د یخی شوی ښیښی څخه خو ښی احسا س کړ ه. خـــو داخوښی هم ډیره شیبه پیزه وه . بیا هم دخپلو انګیو نو دنیا تـــه‌ولاړه . کر ښه، اوږده کر ښه .په مخونو کر ښه. داو ښکو پـــــه‌سمندر گی کر ښه .تو لوکر ښو چاپیرکړه. دکر ښو جال کی‌کیوته.زړه‌یی‌په‌تنګ شو. دازړه تنګی‌ډیره شوه .ارته نړی هم پری تنګه‌شوه‌اود لومړی‌ځل له‌پاره یی احسا س کړه چی ټوله‌نړی تنګه ده .نژ دی‌ووچی کړیکی‌کړ ی .بیا یی زړ ه وکـــړ چـــی کو می خواته ټـــوپ‌کړی .تلولی‌شوه .لاره‌تری ور کـــه شوه . چاره تری ولاړه. غر یبـــی‌تو لی لاری بند ی ولیدی. بیر ته یی‌زا منو ته مخور وگر ځید.کوچنی‌زوی یی ډیر جو خت په مخ‌پوری ټینګ کړ. هغه هم چی په ډیر ی‌اړیانتیا یی دمورو ضعه لید له او نه‌پر ی‌پو هیده څان په مور پوری ټینګ‌کړ. زړه کی یی‌یوه پوښتنه پیدا شوه او غوښتل یی له مو ر نه‌یی‌و پوښتی خوزړه یی و نـــه کړ.

له‌څه‌و خته ورو سته مو تـــرودریدل.ټول په‌تادی له مو ټره کوز شول .دا هم کوزه شوه او بی له‌دی چی زامنو ته وگور ی دیـــو ی پر جور ی کلا په‌لور یی دنورو په‌شان منډ ی وا خیستی خو وار یی دمخه شی .دخو شیبو په دننه کی‌نفر راغلل . هر چا خپله پانـــه

ورکړه. د ی‌هم خپله پاڼه ورکړه.دی‌کی‌یی زا ه ن‌راغلل .دانوره یوی خوا ته کیناسته او ددیوالله سره یی‌ډوه وو هله. خود ډډی و هلو سره سم یی بیا په‌سر کی‌دسهارنه راپدی خواکر ښی راوګرځیدی. زړه یی بیا هم و ډبید. هیڅکله‌له داسی کر ښو سره نه‌وه مخ‌شوی اویایی هم‌ور ن ه‌پام نه واو ښتی. ګنی هسی خو داکر ښی ډیرو خت هلته‌وی. خودی نه‌وی لید لی. مګر نن. نن بیا هری خوا ته همدا کر ښی‌و ی او یادد ی‌په نظرداسی راتلی . خوپه همدی شیبی کی ورته دو مړه درنځ نه‌وی . د لته‌د انتظار خبره درنه وه. دخو نورو شنو کر ښنو انتظار . هغو کر ښو ته انتظار چی‌ډول تریخ ژو ند یی ورته خوږ‌اوه .خو دا انتظاردویری‌سره ملګری و. سخته دارڼو نکی ویړه. داسی سپکه خو تیره‌ویړه. زړه غو څوو نکی‌و یړه .زا من یی هم له‌یاده‌وتلی وو. په‌خپلو سوچونو کی‌دوبه‌وه چی چایی نوم‌واخیست . دانڼدی‌ور غله . هلته هغه ، دنو م‌لوستو نکی په‌بی پروایی سره‌پرزه په‌لاس‌ورکړه. او په خواکی‌یی دا هم‌ور ته وو یل چی ستا سپی‌دلته نه‌شته. دی دستی په‌زاریو پیل‌وکړ. او یوه بل سړ ی‌ته یی عذرونه وکړه. هغه بیا هم پر ز ه وا خیسته او ب ل‌چاته یی‌وسپارله څو دننه‌کلاته‌لاړ شی .دا نو ره‌ریږ دیده . ښه‌کلکه ریږدیده. سر کی‌یی مختلفو خبرو حمله راوړه‌خو دی په‌یوی هم دفکرکولو اجازه‌څان ته‌ور نه‌کړه. څکه یو ډول ویړه یی‌مخ‌ته‌و دریده .ډډیری بدی پیښی څخه‌ویړه .خو داځل بی له دی چی‌داپه ډیر انتظار کی پاتی شی‌پرزه بیرته‌راغله .کوم چا یی نوم‌واخیست او چی دا نڼدی ور غله نو ویی ویل:

تاسو خپله پرزه او کڅو ړه‌واخلی . ستا سو سړی دلته‌نور نشته.

ددی خبری په او ریدو سره یی‌رنګ‌وتښتید .نوره نو په څان‌ونه پوهیده .پرز ه‌یی له لاسه ولو یده‌اود هغی سره‌جو خت دا هم ولویده .پرزه باد پورته کړه . ورپسی بادوار په‌وار چټکیده .پرزه د نورو خزلو سره یو ځای په هواکی‌چور لیده او په‌چور لیدو ،چورلیدو کی هما غسی پورته‌ولاړه او له‌سترګو پناه شوه.

لاسو نه

سنبله ۱۳٦۷

څو شیبی ورو سته پوی‌قهرمانی‌مور دخپلو دوو زامنو لاسو نه په لاسو نو کی‌نیولی اود غو صبی په‌اوج‌کی په داسی حال کی چی له قلمو نو څخه یی گردونه پور ته کیدل او دپرزه وړو نکو په لـتور ورتلل دقلاځخه ورو ورو وا تـــن‌نیوه. او په‌سر کی‌یی دکر ښو یو جړبنجړ ارتال او کشید نی ر ا کشیدنی جوړی وی .

پای

ما هیڅکله غیر حاضری نه‌کوله. هرسهار به لکه ماشین بی ارا دی دفتر ته‌تلم. تل به دا سی طبیعـــیُ ور روان وم. لکه یو څوك چی هر سهارغر مه اوما ښام وبرې‌کیږی . بی له دی چی سوچ وکړم څانمی ددفتر یو حتمي جزګانه .له هغي ورځي څخه چی له کلي راغلی وم نوژو ند می‌بس دوو ځایو نو رانه‌خوږ. یو یې‌دفتر او بل هم کور . سینما او نورو ځایو نو ته تللـخو می عادت‌نه و.سره له دی چی اوس می نژدی پنځه لس کاله له‌و ظیفی‌څخه شوی وو او دشعبی کنجونه، دیوالونه، میزونه ،څیری او نورټول‌راته لکه دژوند حتمی جزګرځیدلی و.خوزه دخیرو څخه پرته نوردځلکو سره دو مره بلد نه شوم، ز هو نږ شعبی ته دیر کسا ن را غلل ا و لاړل، څینیو څخه نه به دا سی هم وشول چی دیو نیم ما مور سره په‌دهغه تربدلیدو پوری بلد نـــــه شوم.

خو او من حق‌پښوا نی سړی نه وم. که‌تر پرونه پوری د شعبی د

ما مورینو په خولی‌یوازی‌ورو سته‌پاتی‌وم نو نن می د شپل نوم هم
گنلی‌و. که‌تر پرو نه لکه ماشیـن‌دنورو په میـنځ کی‌وم نو نن لکـــه
بندی پیری دیوی‌خپینی کوزی دننه‌پروت وم.خودا زماله لاسه‌ونه‌شول.
داهـغـو را بـانـدی و کـــړل. هغو خوار شوو. هغه دشعبی نورو
ما مورینو .بی له دی‌چی‌وپوهیزم. خبره خوداسی‌وه چی زه هیڅکلـــه
میلمستیاوو او میلو ته نه تلم .تل به‌لکه غنه په خپلو سو چو نو کی
راگیروم. ماد شتمن کیدو هیله نه لرله .ددې استعداد هم‌نه لرم .
ژوند ما ته دیوه مهال د حتمـــی تیرو لو مانالرله .دی وضعی به‌کله
کله داخپل‌شاو خوا خلك را پوری‌وخندول . ملنډ ی به‌یی هم‌راپوری
ووهلی . خو ما دومره پروانه پری‌کوله. سو چونه می‌نوروو. د پـر
څله به داسی وم چی دیوه سړی په هکله به می تر لیدو وروسته‌په
سا عتو سا عتو سو چونه‌و هل . دهغه کړه‌وړه به می سنجول .لـه
خانه‌سره به می دهر چا دعمل له‌پاره دلایل تراشل .دی سو چو نو
به‌تل اگیر کړی‌وم. نور نود هیڅ‌شی په‌فکر کی نه‌وم . خو په د ی
وروستیو ورځو کی می نا څـــاپه‌یوی پیښی ټول ذ هن ځا نته‌مشغول
کړ. په دغی ورځی زه له‌تصاد فه‌دوخته راغلی‌و م .هیڅ کار می هم‌نه
لاره. نو بی له دی چی څه وکـړم هسی می شعبی ته دما مور ینـــو
راتګ څاره. . هر چاپو بل ته‌لاس‌سره وز کاوه . یو له‌بله به یـــی
تکرار ی د هری‌ور څخی په شـــاتـ پو ښتنی‌کو لی . خو ټو لـــــو
لاسو نو دیوه لاس سره ډیـــره‌گرمه نیو لی‌وه . هر رنګ لاسونو
ددی لاس سره دنژ دی کیدوخاص‌تمایل‌لاره . تورو، سپینو، سر و،
شین بخنو لاسو نو او ان هغـــو‌ژړولاسو نو چی نوریی شنه شنه
رگونه پریږ پریږ ښکاریدل یوټول‌مکث کاوه .دی مکث ما ته دپام
اړولو یو ټکا ن راکړ. دغه لا ســن‌زمونږ په اداری کی دیوی‌ما موری
لاس‌ور. هغه دلته تازه راغلی‌و ه . ددی څخه پرته‌یو بل تن هم دلته
نوی راغلی‌و . هغه خوان نه‌و خـو ما موره لا پیغله اود خوا نی په
جوش کی‌وه ...ما مور دخپینـــو په اصطلاح((سیانه)) و.لا دیرو خت
یی نه‌و تیر چی دتو لو سره د یر تودشو .دهر چا دمیز سر ته به
ودریږه. ښه‌شیبه به‌یی ور سر ه خبری اتری کولی. ماته دا ســـی

مرموز ډوله بنکاره شو.دده دا د هر چاسره کار لرل می بدی‌راغلی. بیا می په‌ذهن کی خان ودا گه اوفکر می وکړ چی د هغه ډډې ښه سلوك په مقابل کی زما رخه‌راځی.نو څکه می داسی بدی شی . دی تودوالی ورو ورو دانور خلك هم‌سره صمیمی کړل . زما سره هم ټولـو صمیمی وضعه پیـل کـړه.ماهم دی وضعی‌ته باید مثبـت ځواب‌ویلا ی‌وای . خو په پای کی‌دتیری‌ور ځی‌خبره را منځ تـه شوه.

پرون سهار چی کله شعبی ته‌راغلم نو ټو لو په‌وار زما څخه هم داغو ښتنه وکړه چی ننبه حتمی‌دی‌میلمستیاته څی .داد هم هغه نوی ما مور میلمستیلوه . هغه ډیره پا فشاری کړی‌وه چی زه با ید حتمی ورشم. ما مورین هم‌ټول راپسـی‌شله شول .ډډیری شله گی پـه نتیجی کی دلومړی ځل له پاره می‌په خپل ټول ما موریت کـی میلمستیا ته دتللو وویل . تـول‌خوښ شول. ان هغی نوی‌ما مودی خو هغی بلی ته مبارکی ور کړه‌اوویی‌ویل:

ـدازما له‌بخته دی .دازما لـه‌بخته د ی‌چی صمیمیتونه زیاتیږی. که‌نه ما مور صا حب پخواو لـی‌میلمستیاته نه ته. پنځلس کمـی دوو لس له شعبی څخه وو تو ،اواکبر خا ن مینی‌کی دهغه کور ته لاړو .دکورپه خولی‌کی له مو تر وځخه ښکته شوو .تر ټو لو مخکی زه وردننه شوم او ماپسی نـورما مورین. میلمستون ته‌ننو تو .زه دکوټی په‌بر سر کی‌کیناستم .نورهم یوپه‌بل پسی راننوتل .دو ی جنګی زما سره په‌خوا گـی‌کیناستی. په ځو شیبو کی ډډو ډی له‌پاره بلی‌کو تی ته ور وبلل شوو.ډوډی راغله . بوتلونه قطار شول. ماپه مطلق ډول له‌څښلو څخه انکاروکړ. په‌پای کی گیلاسو له ډ ك شول . ډول ډول خبرې‌و شو ی.تر خبرو ورو سته گیلا سو نـه پورته شول . هر چا وخښل. اوماټول څارل.یو گیلاس، بل گیلا س او درېم گیلاس .دی کی ورو‌کورپه‌راغی او زماپه خنګ‌کی‌کینا ست . ددوو ټنګو په مینځ‌کی هم یو تـن‌کیناست .خلورم گیلا س ه م‌په‌سر راپورته شو. خداګانـی ورو ورو زیاتی‌شوی .لاسو نو په‌مرموز و هر کاتو پیل وکړ. دخوږ خـی‌مخکی صحنی راپه یاد شوی. هغه

دشعبی‌حر کات ،هغه مکتونه زړه کی می یوی ویری‌ځای و نیو ،خو
ما څه‌نه شوای کولای. لا سو نه‌دنورو وو . سترګو هم خپل‌کارونه
پیل‌کړه. دخندا په څپو کښې‌ستر ګګونه او هم دلا سو نو
دخوځیدنو یو سورو. هر دو لاس‌په‌کی و. ومی‌لیدل چی دکورپه‌نبوی
لاس هم داسی یوی او بلی‌خواته‌بی‌ارادی حرکا ت‌کوی .بیاپه خا صه
تو ګه دجنکو په لور . دناستو تولولاسو نه همدا سی‌وو اند یوه ډیر
سپین ګیری لاس هم همدا سی و.کتل می چی دی لاسو نو یوپه بل
پسی‌رنګو نه بدلول .دیوه لا س‌خودشنورګو نو له‌کبله رنګ هم شین
و. خوداسی دکړکی وړ شین.وراوورو رنګو نه تور، سپین، شین،
سور او زیړ شول .هیڅ‌لا س په‌یورنګ‌کی‌تر پایه نه‌پاتی کیده . هر
لاس هر رنګ‌اخیست .دی کی‌می‌دجنکو لاسو نو ته‌پام شو، هغه
ځلور واړه سپین نبوی لاسو نه‌وو.دماشوما نو غوښتن لاسو نه‌را په
یادشول. هغه سپیڅلی لاسو نه .که‌کتل می چی زمونږ د شعبی‌د
پخوانی ماموری لا سو نو هم حرکت‌وکړ. دی کی کو مچا پنځم
ګیلاس هم ډک‌کړ. دا هم په سر واو نبتل خوما نور ه‌کوته له‌یاده
وښکلی وه. یواز ی لاسو نه می‌لیدل اود هغو خوځیدل می‌لید ل.
ان ددستر خوا نه‌ها خوا څخه‌می‌هم خلك په‌نظرزا غلل چی‌لاسو نه
یی دسترګو له‌لاری اوړده شوی وو.په همدې د وو نقطو کی په‌کار
لګیاوو .هو سړ نه می‌و لیدل چی‌دسترګو او بیادلاسونو له لار ی
څنګه لیو نی بی واړه د هغووخواته‌دجنکوو خواته لاری لنډوی . پام‌می
شو چی دانوی ما مۍره وار خطاغوندی وه .هری خوانه به‌چی لاس
اوږد شونو هغی خوانه به یې‌سترګی‌واو نبتی .لاپه‌سترګ وکی‌یی
دزاری څه‌نه‌وو. یوازی یوه‌شریفانه‌خوا هش او دنه‌کولو یوه غو نبتنه
طرحه‌وه .خو نورو ستر ګو ا و لاسو نو او هوسو نو ته بیا دا
خبره هیڅ وه. هغو خپل کار کاوه. یوازی یوهد ف دټو لو مخی ته
پروتو .ددی جنکو سره کوم‌قیمتی‌څیزو او دی خلکو باید هغه لاس‌ته
راوړی وای. هغې غریبی وار پار خطاشو . په‌سترګوکی‌یی‌هم
ویری ځان ښکاره کړ. لکه شره‌کو تره دهر حرکت‌سره‌یی
سترګی‌یوی او بلی خوا ته‌اونبتی. دی‌کی زماویره هم زیاته شوه .له

لاسو نو څخه وو پریښدم .ما په خواکله هم‌لاسو نه داسی نه‌ووایدلی خو اوس می هغوی د هو س‌درویبار په‌توګه‌ولیدل.په‌هغی‌می زړه‌وخوږیدل. ماویل پاخیږم او هغولا سو نو ته‌سزاور کړم. هر ډول لاسو نوته. هغه‌می په نظرکی اوس دلا سو نوپه دا مو نو کی ګیر شوی کو تره راغله .سترګو کی‌یی او ښکو ځان‌ښکاره کړ. کله‌چی دهغی په‌سترګو کی او ښکی ښکاره شو ی‌نو لږه‌شاته‌شوه. او س‌یی‌د هر لا سـد نژدی کیدو څخه زاری هم پـه‌ستر ګو کی ښکاریدی . ښـی زاری . داسی راته ښکاره شو ه چی دا نو کوم ډیر قیمتی څیزلری او نه غواړ ی‌څوک یی تری‌وا خلی‌نوځکه یی په‌کتنو کی عذرو نه هم شته .ما هم ور وکتل او ښه ځیرمی‌و کتل. دی کی هغه ورو له‌خپله ځایه پاخیده او زما خوا ته راروانه‌شوه .نه‌پو هیږم ماو لی هلتـه مو سکاوکړه. .ښایی‌په ماکی هـم‌شیطان په حرکت راغلی و. هغه‌زما دمو سکاسره وتریده .لږه ټکنـی‌شوه .پښه‌یی‌و نیو له . خو مازر بیرته خپلی شونډی وتړلی. هغـی‌زړه پیدا کړ او زماخواته‌را غله.دی کی کوربه ور پسی پاځید اوپه یوی‌بی مالګی موسکایی ورته‌وویل:

ـخه د ی‌چی د ومره‌ویریږی ؟ هیڅ خبره نه‌شته .زه به‌دچا ... چی څوک درته کوږوګوری.

پدی‌و خت کی می‌و لیدل چـی‌لاسو نه‌یی پاک وو خو په څـو راتلو نکو شیبو کی‌یی لاس ونو د هغی لاسو نه‌و نیول.. هغه بله‌نو او س دډوډی څخه شاته شوی‌وه.هلته‌یی .خندل .ددی ګو تی ا و لاسو نه هم خوځیدل . هغه ډیره‌بی‌پرواوه لکه هیڅ چی نه‌وی. کلـه یوی خوا او کله‌بلی خواته‌خوځیده.یو نیم ځل به نیم خیزه شوه .ددی دلاسو نو رنګو نو هم په‌اوښتلو پیل‌وکړ. دنورو دلا سو نو په‌ډول. ددی لاسو نه هم دنورودلا سونو سره ګډ شول .خودا بله دا سی‌نه وه.لاس ونو یی هماغه یو رنګـه‌لاره . تر هغی چی دما مور لا س ورنژدی شو خو همداسی‌و .دهغه‌دلاسو نو دتماس څخه ورو سته‌یی په‌لاس ونو کی‌ما دبدلون ټکـی‌ولیدل. سترګو یی زما په لور د زاریو لښکری رالیږلی .ماته د یوی‌بی‌اسری هیلی دماتیدو جریا ن په ستر ګوشو .لکه غږونه چی ما ت‌شنی . لکه‌نیالګی چی ما ت شی او

زنجیر

۱۸-۷- ۱۳۶۷

لکه ماشوم ،تنکی ماشوم چی په مرګی مات‌شی .داسی می دیو ی هیلی دماتیدو اودیوی هیلی دقلا دړنګیدو جریان‌ولید .ماورو شا نته وویل:

ـپری ، یی ږده !

دی کی هغه ما مو رما ته‌و کتل‌او مابیاوویل:

ـپری یی‌ږدی او که‌نه‌بیا مجبوریم‌چی...

خو هغه زما خبره پری کړه اوویی‌ویل:

ـ ته هم داکار کولای شی.

دی کی زمالاسونه پورته شول. دهغه لاسو نوزما لاسونه‌ونیو ل. نورلاسونه هم‌را غلل .یو لاس دوه‌لاسو نه ،دری لاسونه ،پنځه لاسو نه او همدا سی می‌په شا وخوا کی دلاسو نو یو ارتال جو ړ شو. لاسو نو ونیولم اوپه هوا یی‌کړم له‌کوټی او بیایی له‌کوړه پسی وویستم .غږونو نو می‌د هغی ژ ړا اوریده .غږونه یی‌اوریدل . خپل نوم می اوریده او ستر گو مې‌لاسونه لیدل .دوو لاسو نو هغه ونیو له .دوه نور لاسونه یې‌کمیسه ته ور ږدی شول . دهغی وجود په لاسو نو کی‌ښکیل شو .رنګارنګ‌لاسو نو کی. زه‌دویستو په‌حال‌کی‌و م .سترګو می اوښکی تویی‌کړی .نورد او ښکو په پر دی کی هر څه رانه پناه شول. نور د باندی وم او دروازه را باندی‌وټړل شوه. هلته می هم لیدل‌چی هغه‌څنګه په‌لاسو نو کی قالکی‌و هی‌او ماته‌غږ کوی .خو ما کی نور ددی وس نه‌و چی وړاندی تللای‌وای .د لاسونو منځ‌ته‌تللای وای . ځکه‌همدی لاسو نو دویستو په‌و خت کی زه له اده باده غورځولی وم. نورما ته دنړی هر لا س ګنهګار ښکاره شو.

پای

ډزی پای ته‌رسیدلی‌و ی . هرچاځانو نه موټرو ته ورسول .دموټرو اوما شینو نو ډیر اوږد قطار جوړشو. ګنه ګونه ډیره‌وه .چغا ،پغـــا جوړه وه . چا دزوی تپو س کاوه‌او چا هم دلور .ځینو دخوراو ځینو هم دورور .څوك د چاپه ځواب نه‌پوهیدل .د ځواب څوك وو هم نه. هرڅوك دځان مسوول وو چا دچـــاله‌پاره څه مسوو لیت نه لار ه.هر څوك او خپله‌یی سودا .دکور نیوتیت‌و پرك والی خونوعا د ی‌خبره وه. ټیل‌ما ټیل زیات‌و .یو نیـــم‌چی‌لږغښتلی‌و نویو او دوه‌څارو ی یی هم‌لا ریو ته خیژو لی وو . څارویو او سړو یوځای سفرسره کاوه .ډیر کم سړی به څه بو چـــی‌په‌شا مو تر ته‌وخوت. نور تـــو ل تش‌لاس وو . ښځو به په زور ه ژړل . اوا سپین ږیرو به‌و یل چی خدازده په‌کو می ګناه به‌نیول‌شوی‌وو .ځوانانو به‌د ((مه کوه)) ا و ((وکوه)) خبری کو لی . هغو ی دبندو بست په کار اخته وو. یو نیم ځل به دځینو تر مینځ خبری هـــم‌ډیری سختی شوی.

تازه لوړ مازِ یگړو . یخنی هم‌پیل شوی وه .د درو له سړوغروتو څخه یخ شمال لګیده.ما شنوما ن به‌له‌یخنی پرکیدل اورین دید ل .د څینو خوبه ژامی هم ګړبیدی. پـه‌څینو له هیجانه هم څه درین دیـدا او ګړبیدا څپی راغلی‌وی . خـــوهغوی چی ډیر واړه وو ،نودمیندو او خو یندو په‌غږ کی دنورو نه‌لږآرام‌وو. هغوی پدی تو لهیبت‌هیڅ نه‌پو هیدل . هغو کی چاد میندوتی‌رودل، اوځینی هم ویده وو. یونیم به‌یی‌په‌کی په ژړاو هم اخته‌و .خوددوی ژړاوو د هغو نوروغږو نو سره تو پیر لاړه . هغو غږو نوکی‌دژورو در دو نو ژوری او بـی‌پایه ریښی‌و ی .د هغو غږو نو نه د دردڅپی پورته کیدی . خودی غږو نو نه دلږی‌نا آرا می څپی خپـــری وی.

څه شیبه ورو سته دسړ مو تروخوخید . اود لوی ښارپه لوری‌یی حـرکت وکړ. وړو کـــی کلـــی ا وبیا په څنګ‌کی‌لږ واټن ها خوا تری وړو کی ښار کی ورو ورو څا ن پناه کاوه .څای، څای دمو تړو په مینځ‌کی ما شینو نو او پلنـــــوزنځیرو نو هم‌حر کت وکړ. دهغو غر هاروهڅه کوله چـــی‌دټول‌قطار شور ما شور وخوری . په تـــو ل قوت سره د دوو ډلو غږو نو تر مینځ یوه سخته جګړه ونښتله. له یوی‌خوا ماشینونه ،زنځیرو نه ، موټرونه او له‌بلی خوا سپین‌ږیری، ما شومان، ښځی او خـوانان لـــه‌خارویو سره . تر ډیره دا حا لت ګډوډو .یوپر بل دبریالی کید و پته‌نه‌وه .دوی لښکری سره‌لویدلی وی. نـــــــا ری ســـو ری‌اوغر هاری. دی دواړو سره څپړی لګولی.

زمونږ موټر دقطار په مینځ کی‌و.په مو نږ پسی پلن‌زنځیر والاماشین

راروانو. هغه داسی غږ مبیده لکه چې زمونږ موټر ته یې ګوانښ کاوه، او زمونږ موټر هم هغه دپنځومتروواټن کې تری تښتیده . لکه ښکار چې له ښکاری نه منډې وهي. کله، کله به ګردو نو یو له بله پناه کړو. یوبل به مو نه سره لیدل ،خو چې کله به ځمکه پوځه کلکه وه نو بیا به مو سره لیدل.

زمونږ په موټر کې هم دتـــو ل قطار ترکیب موجودو .ماشو ما ن ، ځوانان،، سپین ږیر ی ، ښځې او پیغلې. ځاروی هم راسره وو .دلاری دباډې دغاړ ی لر ګی ټیټ وو اومونږ به تل له ځانه سره په هری موډې او کږ لیچی کې د((یا الله خیر کړی!)) جمله تکرارو له .د یوځه منز ل ځخه ورو سته دمو ټرد درو ځارویو ځخه یوو لو ید او دهغه دلویدو سره جو خت د یوه سپین ږیری له خو لی ځخه یـوه وړه شان چیغه وخته .خو مو تـرهم هاسی روانو او په شا پسی یی زنځیرو نو هم ځمکه چیچله . کله کله به داسی په نظر راغـی لـــکه زنځیرو نه چې غواړ ی ځمکـــــه وخور ی نو ځکه غاښ پری لګوی. هر قدم کې به یی دوه دری ځا یه خوله پری لګو له او په ټول جود به یی زور پری وا چاوه . خـــو ځمکی به بیر ته د هغه غاښو نه له خپل تن ځخه وو یستل او دی به یی مخ ته ټیل واهه .خو اړ خیزه جګړه روانه وه. زنځیرو نو به مو نږ ته او زمونږ مو تـر ته ګـــوانښ کاوه . خو په ټو لو ځمکه بریا لی وه. هغه ولاړه وه او موږ تر ی تلو. زنځیرو نه هم پری نښو ییدل .هیڅ شی یی په ځان ولاړ نه پریښودل.

ګینټه لږ او ډیر به و پا ند ی تللی وو چې دی کې یوبل غږ هم پیل شو. ټکهار ی او ګړمبها ری. عجیبه داوه چې موږ تلو او د ی ګړمبها رو او ټکها رو ته مو هیڅ پام نه ساتلو . په وړاندی تلو . دی

کی زما په خواپوری یو د دنګیونی زلمی داسی ورو غو ندی حرکت وکړ. کتل می چی په‌لو یدو شو. ماور توپ کړه. خو هغه نورلویدلی وو. ینو یی‌داری‌وکړی خو هسی‌داری نه‌وی. ډیر زر یی په خپل وجود ور وښهید ی‌او په څو راتلو نکو شیبو کی دهغه غړی غړند او سر یی یوی‌خوا ته کوږ شو. بنډځو ځانو نه یوی او بلی خوا ته کش کړه. زمو ږ په شو ر ماشورکی دیوی بنډځی سا ندی هم واو رید ل شوی. غو ږو نه‌می نورو توله چیغو ،کړ یکو، تکهارو، ګړزهارو او غرهار و نه‌کانه شول. یوازی می ددی بنډځی سا ندو غږونه او ریدل .داسی می‌و ګنله‌چی ګنی نور هر څه په نپه ودریدلی دی. یواز ی غږ خوزیږی. غږ حرکت کوی . غږ هم‌دسا ندو غږ ټو لو ور ته غوږ نیولی‌و .ځینو نورو هم ور سره ژړاوی پیل کړی اود ژړاوو غبرګول پیل شول . خدای خبر چی دی‌و ضعی به څو مره دوام کړی وای که دابله پیښه‌نه‌وه را مینځته شوی.

زمونږ په موټرکی یوه دمنځنی منګ بنډځه هم ناسته وه. هغی یو دری کلن ماشوم هم‌لاره او هغه‌یی په‌غیږی پوری داسی ټینګ‌نیو لی ولکه له‌بل‌چا څخه یی چی په زوره‌راکش کړی او په‌سینی پوری نیولی و. څو شیبی مخکی چی هغی په‌ناز خپل‌ماشوم ته د هغی نوم‌ور یاد کړ نو وپو هیدم‌چی هغه جلکی‌ده. دی به هغی‌ته ، خپلی لور ته د((مور))نه‌و یل .دا خبره به یی‌په نازور ته کوله .هغه هم بی له دی چی وژاړ ی وحشت‌و هلی وه. هرچاته یی‌په اریانی سره کتل . هر حرکت‌ته به‌یی مخ‌واو بنت . بنه بنایسته مخ‌یی لاره او داسی بریښیده چی مور یی په ((مور)) ډیر پام‌لاره.

خود هغه زلمی دلو یدو سر ه‌ددی مور هم یوځه وخو ځیده . د

هغی په‌سترګو کی هم او بنکښی راغلی .داسی‌راته بنکاره شوه چی دی دخوورځو وضعی دهغی اوبنکی‌وچی‌کړی وی .او چی او بنکی یی راغلی نو بیاداسی یوپه‌بل پسی بهیدی چی ما ویل چینه ده او خوتیږی. دهغی او بنګو څان ته رنګ‌لاره . دیوه چپ او خا موش غم‌نه‌یی خبری کو لی . دیوه پټ‌او تکیدلی غم‌نه .دیوه بند ی اوپه زړه کی بندی‌غم‌نه‌یی کیښی کولی.

ماشینونه هما غسی خوځیدل .زنځیرو نه هماغسی خو ځیدل .خو ماته داخوځیدته سکون بنکاره شوا و بنه سخت سکون .یوازی یو شی حر کت کاوه او هغه‌غږو .دهغه‌سره یو ځای او بنکو اود او بنکو په د ننه کیی غمو نودغمو نو سره یوځای د دردو نو اوبلاوو خیر ی بنکاریدی . لویی خیری . بنی‌لویی‌خیری .داسی لکه دیوان . هغه د افسانو دیوان او خیری.

دساندو په دننه کی می پام شوچی هغه د((مور)) مور پاځیده او زړه یی وکړ چی وړاندی راشی .دهغی دپاځیدو سره جو خت مو تر دیر سخت تکان وکړ اودی دځا ن‌دتینګولو له‌پاره دی خوا ها خوا کاواکه‌لاسو نه واچول. دمور لـــه‌لاسو نو څخه ((مور))په هواشوه اود هغی سره یو ځای یوه‌در نه‌کړیکه یی له‌خولی‌و ختە:

ـــوای موری !((مور))والویده .

او مونږ تو لو ((مور)) دلو یدو په‌حال کی‌و لیده چی څنګه ځمکی هغی ته غیږه‌ورکړه ،خو هغه پـــه جګړی کی اخته‌وه .د زنځیرو نو سره په‌جګړی‌کی . او ترځو یی‌چی‌څان تیاراوه نو بیایی زنځیرو نوپه غیږی خو له لګولی‌وه .د هغی‌وجود تینګ‌وخو ((مور)) یی تری پـــه غاښو نو وژوولە .مو نږ ۀ والـــو سترګی‌پټی کړی. دتو لو له‌خو لی. چیغی‌و ختی. اوس مونو سا ندی‌هم‌له‌یاده وتی‌و ی .یواز ی مـــود ((مور)) دمور نیو لو ته‌ورودانګل.

داغونه

۲۸ـ ۷ـ ۱۳۶۷

نورنو ټول غږو نه ګو نګی په نظر راغلل او ټول غوږونه ګانې .
دخمکی او زنځیرو نو جګړې نه غږو نو ته دلو ریدو او نه هم
غوږو نو ته داو ریدو مجـــــال ور کاوه . زمونږ شور ما شور هم
دی جګړې خوږ. خو مونږ وړا ندی تلو اود خمکی او زنځیرو نوجګړې
هما غسی دوام لاره. او یو بل سره یې خیړې لګو لی .

پای

زمونږ ښه لوی کلی دی .دوو خواوو ته‌یی ښه لوی سیند بهیږی. کلی‌یوو خت ډیر آرا مه‌و. څه غږ غوږ په‌کی نه‌و .چا به په څه‌شی پسی دومره سر هم‌نه‌گرځاوه. د خلکو روز کار دخرابتیا سره سره بیا هم دو مره دشکوی‌وړنه‌و .گوزاره کیده .خود نو رو کلیو ژوند زمونږ دکلی نه ښه‌و. هغو څمکی ډیری لږ لی اویو څه پریمانی په هغو کی‌وه .خو او س‌دا د ی ز مو نږ ژوند دبد نه‌بد شو. دومره بدچی نوردویلونه دی. نه‌پوهیږم‌و لی ماته اوس خپل کلی قبرستان غوندی ښکاری .هر څه پکی خپل اصلیت له لاسه‌ورکوی. آرا می چی پخوازمونږ په‌کلی کی‌ډیره وه اوس یی ټوبیخی خپله بستره تړلی ده. اوداکار له هغی ور څی پیل شو چی زما ورور یوه غرمه دکلی دپیغلو څخه یوه ر ا وتښتو له .ډز ی وشوی . یو څو راکی مړ ه‌شول .خو زما ورور جلکی خپله‌گړه. یوه خور می بیا په‌بدو کی هغوته ورگړل شو ه.موږ په‌خپله خوښه داکارونه گړ . اصلا

هغو زموږ خورنژدی وتښتو له .خو داکاریی یودوه کاله ورو سته وکړ. له هغی مخکی را تـــــه گوانښیدل او ښه سخت‌گوانښید ل. ټوپك موپه‌اوږ وکړه. یـوبل‌سره‌نه‌مخ‌کیدو .د مخ کیدو سره ســم به ډزی‌وی . بیابه څوك راکی‌مړه یاټپیان شول.

خو که‌ربښتیا درته ووا یم ز ه اوس لـــه بـل څه‌نه‌رنځ وړم.هغه داغونه دی .پو هیږی داغو نه .دا داغونه زمادزړه په‌سر هم شته او دهغو دزړه په‌سر هم شته. دټولو دزړو نو په‌سر شته . خو ټو ل خپل دزړه داغونه‌پټو ی .چیر ی داکار کوی .بیا خو نو غرور ، ځان غوښتنه، تکبر او دا تـــول‌ماتیږ ی. اود دود ماتیدو زو ردوی په‌ځان کی ته‌وینی. خبره دداغو نو ده. دچاړه مړینو داغ‌کړی دی او دچا هم وینو. دچا غچ او بدل اودچا هم بی‌و سی .بی‌و سی می‌یاده کړه بی وسان خونو هسی اریـــان‌دریان گوری او نـه پو هیږی چـــی څه وکړی. څوك دخبرو داو ریدو هم‌نه‌شته. بی‌و سی لویه‌بد بختی‌ده پوهیږی لویه بدبختی ده.

آها خبره د داغو نو وه مـــــاغوښتل درته ووا یم چی زما زړه هم‌داغ لری خو هغه دانځور گر ی‌دیوی نه پوره شوی پار چی په‌ځیر ده او زموږ دکلی انځور گران‌هره‌ورځ خپل برسو نه پری گرځو ی او یوه نو ی څنډه ور زیاتوی.خو پدی ټو لو کی یوه څیر ه‌می ډیره ستر گوته کیږی. هغه ددداغونو دپیل ټکی . هغه ټکی دی خدا ی ورك کړی. خدای شته چی‌دااو س‌ستا سو سره د خبرو په‌جریا ن کی می‌هم داټکی سترگو ته‌کیږی. هغه ټکی چی‌لومړی پیل شو .او دادی زما په‌زړه کی یی هم خپل‌خاپ لگو لی دی. په ژوند کی‌خو باورنه‌لرم چی دا خا پله مینځه‌لاړشی . شخړی به‌ور کی‌شی . کلی به آرام شی خو خدای ته معلو م چی‌زما دزړه داغ به‌ور ك شی اوکه نه. زړه مومه په تنگو ی او س‌یی درته‌وایم . دستی یی درته‌وا یم . هغه دپیل‌ټکی هم داغو.پو هیږ ی‌چی‌زما دزړه داغ په‌یو بل دا غ‌سره پیل شو .آه، هه دو چو لی پـــه داغولو سره . اریا ن‌نه شی د وچو لی داغ زما په‌زړه داغ‌کیښود.هغه هم داسی داغ چی په‌ور کیدو یی بی باوره شوی یم .دادا غو نه‌زموږ په‌کلی کی ډیر دی . زمو ږ

کلی به کله‌کله شخړی په ســـرواخیست .هغه زمونږ تر مینـــځ شخړی. وخت په و خت بـه‌مرګ‌ژوبله په‌کې‌و شوه . نیا یسته‌ډیر خلك دواړو خواو وته‌ودریدل . آخر ټول کلی یوله‌بل سره تړ لی و. ان مونږ او هغوی هم ســـره‌تربوران وو .خو یو زیات شمیـر خلك مینځګړی پاتی شول. هغوبه‌تل مو نږ ته ویل چی شخړه مه سره کوی خود اوریدو غوږنه‌و .چاداکارنه‌کاوه .نو جنګ کی خـو حلوانه و یشله‌کیږ ی . جنګـــ‌سرونه خور ی او داغونه ږدی . دمیشدو، وروټو، ښځو، خـویندو، پلرو نو، زا منو او لونو په‌زړو نو کی داغونه.

زمونږ په کورنی کی هم په‌دی‌جنګ جګړی کی ډیر مړه اوټپیان شول. ډډیرو مړینو ورو سته یوه‌ورځ زما مشر ورور ډیر په غوصه کورته‌را غی .دو مره په‌غو صه چی‌ان زه‌تری وویریدم .هسی خو به‌د پیښی څخه ورو سته دی تل په قهرو . له‌سترګو یی تل غضـــب وریده . ډیرو خت به‌یی چرتو نه‌وهل. ښه اوږده اوږده چرتو نه . ښایی ددی چرتو نو دننه‌به یـــی‌پښیمانی ښیله. خو مونږ پری نه پو هیدو. ربښتیا خبره د هغـــی‌وړځی‌وه. هغه چی ماویل دی په غوصی کورته‌را غی .یو څه سپکی‌سپوری یی له خولی‌و وتی .دهر چاخبره یی په خوله کی ورو چه کړه..خبره‌پری ښه‌نه لګیده . دکور ټول لوی واړه چپ شول .و یره‌د‌ټولو په‌سترګو کی ښکاره شوه. دی کی‌نه پوهیږم چی څه یی په خیال کی‌ور وګرځیدل ناڅا په یی زما ورینداره ،او س می نـــــوورینداره وه، وروغوښته.

هغی غر یبی خوله هما غـــــی‌لومړنی‌ور څی نه خوله تړلی‌و ه. دهر چا تپ‌سیور ی‌وه .په ښوبدو یی‌کارنه‌و .څه یی چی‌ور ته‌و یل هغه‌یی کول .او ولی به‌یی نه کول‌څه په خپل اختیار خونه‌وه.ښایسته ښکـلی مخ یـی اوس نـــو داسی‌او ښتی‌و چی‌سړی پری دیـــــوی ځوا نی ښځی هیڅ ګومان نه شو کولی .رنګ‌یی او ښتی و لکه داد ټوپکو‌ټول‌باروت اولوګی چی دهغی‌په مخ تیر شوی‌وو. هغه به چی هـرکله زما دورور مخی ته راغله وبه‌ریږدیده .دی ریږ دیدا به تـر هغی دوام‌وکړ چی دهغه له‌سترګو به‌پناه شوه. او چی کومه‌ور څ به

څه مرګ ژوبله و شوه نو د ی غریبی به ډیره هڅه‌کوله زمادورور سره مخه‌نه‌شی . ځکه د هغه کتنوبه داسی ورو ښیله چی گنی اصلی گنا هگاره داده. او دی غر یبی‌داڅو کاله ژوند په همدا سی اورکی تیر کړ.د هغی په‌سترگو کی چا مخا مخ او ښکی ونه‌لیدی . هغی‌به پټ په‌پټه‌ژړل .زه یی په‌ژړاپوهیدم.ښه‌یی ژړل . خو دنورو په‌مخ کی‌یی او ښکی‌و چی‌و ی هغه هم له ډارنه‌و چی‌و ی .زما به‌پری ډیرز ړه وسو. دهغی په‌بی اسری تو ب به‌می زړه‌وسو .غر یبه ډیره بی‌وسه وه. دی بی‌و سی خویی له‌هما غی‌لومړی‌ور ځی نه زما پام ور اړو لی و. خوما څه کولای شول زه خوهم‌بی‌وسه وم . ز مـا واك کی‌هم‌څه‌نه وو. زموږ والو خونو ډیری خبری‌سلا مشوری او اونوکړه او مه کړه‌د ((شا))په‌لاس‌وی .((شا)) زمو نږ خپلوان و. دهغه نوم بل څه‌و خو په‌کورکی یی ور ته((شا))و یل .ځینو به‌ورته((شاآغا)) او((شاگی)) هم‌ویل .په‌هر صورت زه په کورکی‌بی‌وسه‌وم . لکه هماغه خپلـــه ورینداره .

اودی‌و خت کی چی زما ورو ړه‌ورینداری غږوکړ نو زما زړه‌هم ټوپونه‌وکړه. ویری په‌سرواخیستم. زمادورور له‌سترگو نه داور بڅری بادیدل .ربښتیا داور بڅری وو. ماولیدل. لکه دبرات شپی دپټا قیو الوتل. اوس می دورور ستر گی‌هماغسی‌وی . ورینداری په‌ورو، ورو گامونو ور روانه شوه. ورورمی دنغری په غاړه ناستو .ما می دورینداری قد مو نوته‌کتل .دهغی‌هر قدم په خر وارونو زور سر ه پورته‌کیده .آخر هلته په خروارونو ویری خپل لنگر اچولی و.د هغی په‌بدن او پښو باندی .دا پـــــه وړاندی تله خودویر ی لنگر نـــه پریښوده چی وړاندی لاړه شی . اوف! چی‌په دی غر یبی څو مر ه خواری‌وه. هر قدم یی لکه کـــال وروسته چی اخیست .دهر قدم د پورته‌کیدو او بیاځمکی ته‌دراتیټیدو ترمینځ ډیر زمانی‌وا ټن و.قدمونه می له‌نظره ډیر او چت را غلل . لکه غرو نه ، پښی م ی‌له نظـــره لـــو یـــی ر ا غـــلـــی لـــکه غرونه.

درنښت یی هم دغرو نوو .بیا می دورور ستر گو ته و کتل . هلته زور سم داور پټی وی. دستی می دخدای(ج) دوزخ راپه یاد شو .هغه

لایتنا هی اور. هغه چې گنا هګاران سو ځی. گنا هونه سو ځی. درا نه گنا هونه .دټول عمر گنا هو نه .دلږ وخت له پاره د تل له پاره . اوزما ورینداره اوس سر په دنیا د داسی اور وخواته روانه وه . ماخپله ورینداره دهغی دعمل نامی سره ولیده .هیڅ تور تکی می په کې ونه لید. یواز ی یو تور تکی و .تورنه،زموږ په سترګو کی دارنګ تور و. نورو ښایی دارنګ تور نه لید.هغه نور رنګ ددی ذات پوری نښتی رنګ و . هغه نه لری کیده . خود تللو په حال کی می و رپام شو،چی هغه رنګ نور تورنه و . هغه تک سپین رون رنګ و. ما ته دا انصاف ښکاره نه شو. دخدا ی تعالی (ج) دقیا مت دور ځی انصاف اوعدا لت راپه یاد شو. دزره زره شمیراو گنهل. دښو دبدو .دهر غږ ی د هر چا. خو او س ددی رنګ په پیژندلو ما ته نور دبدو څه په نظر رانه غلل. او زما ورینداره دا دی روانه وه. هغه سر په دنیا دوزخ ته. هغه داوردبتیو خواته . هغه زما دورور دسترګو داور و خواته. په لویو، درنو ،درنو ،خو سترګو وږو او ورو ورو گامونو.

ما خپله پریکړه وکړه.. له ځا یه پورته شوم ویره می نوره له یا ده وتلی وه . غوښتل می خپل ورورته ورشم .هر څه ور ته ووایم .هرڅه. هغه چی ماو لیدل هغه ور ته ووایم. دورینداری دبی گناهی اوسپیڅلتوب ورته ووایم. د پاکی ،دانصا ف ، دخدای تعالی (ج) دانصا ف نه. خو زما تر رسیدو دمخه نور نو ز ماورور خپل کاروکړ. ا وسپنیز سیخ چی په اورکی پرو تو پور ته شو اودسترګو په رپ کی ز ما دورینداری په وچولی کی یی یوه توره پریږه لیکه جوړه کړه. هغی کړیکه و کړه او ځان یی شاته کړ. ماویل داسرا فیل(ع) شپیلی وه. دهما غی منډی په حال کی می دصغرا او کبرا قیا متو نه اود هغو انځورونه راپه یاد شول.ورینډا ره پریوته خو بیا له ځایه پور ته شوه او مخ په منګو یی منډی کړ ی. زماله خولی هم یوه درنه اوږده او له هیجانه ریږدیدو نکی کړ یکه وخته خو دکړیکی په پای کی می بیا دبی وسی ژړا پیل شوی وه، خوله می ورانه ورانه شوه. غږ می له خولی خوت خو څوك می په خبرو نه پو هیدل .ما می ورینداری ته د او ښکو دننه ور وکتل .د هغی په تنه ی باند ی توره پریږه لیکه

بنکاره شوه. او همدا سی می وروځغستل .هسی می ور وځغستل. ټنډه داغ شوی‌وه .بنه ژوره دا غ‌شوی‌وه .کور کی می نورو خلکو ته وکتل. دټولو په ټنډو کی دد ا غ تصو یر راته بنکار ه‌شو. خود چا لوی اود چاهم‌وړو کی. خدا ز ده‌ولی‌می په هماغه و خت‌کی دورور خبری ترغوږ شوی چی ((دا سی‌ټنډی د داغولودی)) .او بیا ((هغو هم آ زمونږ دهغی ټنډه دا غـــلی ده)).

پای

۱۳٦۷ ر۸ر۲۵

دافغانستان د لیکوالو انجمن